# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز منگل مورخہ 18 نومبر 1997

(بمطابق 17 رجب 1418ہجری)

جلد 8 | شمارہ 9

سرکاری رپورٹ

| مندرجات | صفحہ نمبر |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2 ۔ نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات | 2 |
| 3۔ توجہ دلاؤ نوٹس | 50 |
| 4۔ صوبہ سرحد میں ڈاکٹروں کی ہڑتال | 62 |
| 5 ۔ علاقہ مٹہ مغل خیل میں مسلح قبائیل کا حملہ | 78 |
| 6۔ جناب نجم الدین خان ایم پی اے کے سوال نمبر 57 پر بحث | 87 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 18 نومبر 1997ء بمطابق 17 رجب 1418ھ صبح دس بجکر چھتیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، ہدایت اللہ خان چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ہ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ہ

اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ اَیْدِیْنَا اَنْعَامًا ہ فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ہ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا یَاْكُلُوْنَ ہ وَلَهُمْ فِیْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ اَفَلَا یَشْكُرُوْنَ ہ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَعَلَّهُمْ یُنْصَرُوْنَ ہ لَایَسْتَطِیْعُوْنَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُحْضَرُوْنَ ہ فَلَایَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ اِنَّا نَعْلَمُ مَایُسِرُّوْنَ وَمَا یُعْلِنُوْنَ ہ (القرآن) پارہ ۲۳ آیات نمبر ۷۱ تا ۷۶۔

ترجمہ: کیا یہ لوگ دیکھتے نہیں کہ ہم نے اپنے ہاتھوں کی بنائی ہوئی چیزوں میں سے ان کے لئے مویشی پیدا کئے۔ اب یہ ان کے مالک ہیں۔ ہم نے انہیں اس طرح ان کے بس میں کر دیا ہے کہ ان میں سے کسی پر یہ سوار ہوتے ہیں اور کسی کا گوشت کھاتے ہیں اور ان کے اندر ان کے لئے طرح طرح کے فوائد اور مشروبات ہیں۔ پھر کیا یہ شکرگزار نہیں ہوتے؟ یہ سب کچھ ہوتے ہوئے انہوں نے اللہ تعالیٰ کے سوا دوسرے خدا بنالئے ہیں اور یہ امید رکھتے ہیں کہ ان کی مدد کی جائے گی۔ وہ ان کے کوئی مدد نہیں کرسکتے بلکہ یہ لوگ الٹے ان جھوٹے معبودوں کے لئے حاضرباش لشکر بنے ہوئے ہیں۔ جو باتیں یہ بنا رہے ہیں وہ آپ کو رنجیدہ نہ کریں ان کی چھپی اور کھلی سب باتوں کو ہم جانتے ہیں۔

## نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات

Mr. Speaker: Honourable Najmuddin Khan MPA, to please ask his question No. 66.

* 66۔ جناب نجم الدین : کیا وزیر تعلیم ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ۔

(الف) آیا یہ درست ہے کہ گورنمنٹ ہائی سکول گوڑی بالا دیر سب ڈویژن مکمل ہو چکا ہے ؟

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو۔

(i) مذکورہ سکول کی تعمیر پر کل کتنا خرچ آیا ہے ؟

(ii) کیا مذکورہ سکول کو عملہ فراہم کیا گیا ہے ؟

(iii) اگر سٹاف مہیا نہیں کیا گیا تو وجوہات بتائی جائیں ؟

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم ): (ا) جی نہیں گوڑی بالا میں نہ توکوئی ہائی سکول موجود ہے اور نہ کوئی مڈل سکول البتہ یہاں پر صرف ایک پرائمری سکول موجود ہے جو کہ

1.11.96 کو قائم ہوا تھا جس میں مارچ 1997ء سے درس وتدریس کا آغاز ہو گیا ہے۔

(ب) چونکہ جز ( الف) کا جواب نفی میں ہے اس لئے (ا) جواب جز (الف) میں ملاحظہ فرمائیں ۔

(ii) جواب جز (الف) میں ملاحظہ فرمائیں ۔

(iii) جواب جز (الف) میں ملاحظہ فرمائیں ۔

جناب نجم الدین : سر! په دے سوال کښې لږه غلطی شوے ده۔ دوئ ما له جواب راکړے دے خوزه د منسټرصاحب نه يوضمنی سوال په دے سلسله کښې کوم جی۔ هغه دا چه ګرلز هائی سکول بيبيوړ او مډل سکول ګانشال، هائی

سیکنڈری سکول کلکوټ، شرنګل اوپاتراک، دا Complete شوی دی او تراوسه پورے هغے ته سټاف نه دے ملاؤ شوے نوځما دا Request دے چه منسټرصاحب به دے له د سټاف بندوبست کله اوکړی او په دے کښ به کله کارشروع کړی؟

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): جناب سپیکرصاحب! د دے دریو سکولونو منظوری شوے ده۔ سټاف ورته مونږ ورکړے دے زه به انشاء الله دوئ ته د دے هغه Orders که دوئ وائی نو هغه کاپی به ورکړم جی۔

جناب سپیکر: ټهیک شوه جی۔

جناب نجم الدین: سر! دا هائی سیکنډری سکولونه چه کوم دی د دے د سټاف متعلق، درے سکولونه جوړ شوی دی، Complete دی جی-----

وزیرتعلیم: سر! هیډ ماسټر پکښ چونکه پبلک سروس کمیشن کوی، ګریډ 18 نو چه کوم د پبلک سروس کمیشن نه مونږ ته ایس ای ټی او سبجیکټ سپیشلسټ راغلی دی نو هغه به ورته مونږه اوکړو او چه کوم د پبلک سروس کمیشن نه مونږ ته Earliest زر تر زره ملاؤشی نوانشاء الله هغه به ورته هم ورکړو۔

جناب نجم الدین: زه سر دStaff sanctions وایم۔

وزیرتعلیم ، دغه تاسوته ما Staff sanction اووے جی کنه، انشاء الله تعالیٰ دا به زر اوشی۔

**Mr. Speaker:** Honourable Najmuddin Khan, MPA to please ask his Question No. 67.

* 67 ۔جناب نجم الدین: کیا وزیر تعلیم از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ۔

(الف) آیا یہ درست ہے کہ گورنمنٹ بوائز پرائمری سکول چم شیر مینگل اور گورنمنٹ پرائمری سکول گڑی شیر مینگل (دیر سب ڈویژن) مکمل ہو چکے ہیں؟

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو مذکورہ سکولوں کی تعمیر پر کل کتنی لاگت آئی ہے؟

(ج) آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ سکولوں کو عملہ فراہم کیا گیا ہے اور اگر نہیں تو وجوہات بتائی جائیں؟

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): (الف) درست ہے۔

(ب)

| سکول کا نام | لاگت |
|---|---|
| چم شیر مینگل | ۳۱۷۸۲۵ روپے |
| گڑھی شیر مینگل | ۴۶۵۴۹۸ روپے |
| کل لاگت۔ | ۷۸۳۲۳ روپے |

(ج) درست ہے مذکورہ سکولوں میں درج ذیل عملہ فراہم کیا گیا ہے۔

(۱) GGPS چم شیر مینگل۔ خورشید بیگم PTC

(۲) GPS گڑھی شیر مینگل۔ بہرہ ورسید PTC

نیک محمد PTC

جناب نجم الدین: سر! په دے کښې خو دوئ دا لیکلی دی، استاذان ئے لګولی دی، ما مخکښې هم منسټرصاحب ته دا وئیلی ووجې چه دا د کوهستان ایریا ده، دلته کښې د باهرخانے استاذان کارهم نه کوی جی، نوخما دا Request دے جی چه لکه څنګه ئے چه دا نور Hard area declare کړی دی، نو د کوهستان ایریا د Hard area declare کولو څه پروګرام شته دےاوکه نه؟

وزیرتعلیم: سپیکرصاحب! دوی خوسوال کړے وو او د هغه سوال مطابق

ورته مونږه ونیلی دی چه استاذان مونږه تاسو ته درکړی دی او د هغه استاذانو لسټ هم دا دے او نومونه ئے ورته هم لیکلی دی۔ پاتے شوه د Hard area نو د Hard area خو به چیف منسټر صاحب څه فیصله کوی۔

جناب سپیکر: دا بیا ورسره کینئی، خبره اوکړے کنه، په Hard area باندے۔

جناب نجم الدین: سر، چه یومیټنګ راسره کیږدی، خمونږه خو دغه مطلب دے جی۔

جناب سپیکر: میټنګ ورسره څه وخت کښې کیږدئی جی۔

وزیر تعلیم: ټهیک شوه جی، چه کله دوئ وائی۔

جناب نجم الدین: ټهیک شوه جی۔

**Mr. Speaker:** Honourable Ahmad Hasan Khan, MPA to please ask his Question No. 80.

*80۔جناب احمد حسن خان: کیا وزیر تعلیم ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ۔

(الف) ضلع دیر میں کل کتنے مڈل ہائی اور ہائیر سیکنڈری سکولز ہیں؟

(ب) مذکورہ سکول میں گریڈ وائز کتنی آسامیاں ہیں؟

(ج) مذکورہ سکولوں میں تاحال اساتذہ کی کل کتنی آسامیاں خالی ہیں وجوہات بتائی جائیں۔

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): (الف) ضلع دیر میں مندرجہ ذیل سکولز ہیں۔

| | مردانہ | | زنانہ |
|---|---|---|---|
| (۱) | مڈل 95 | (۱) | 44 |
| (۲) | ہائی 82 | (۲) | 16 |
| (۳) | ہائی سیکنڈری | (۳) | 1 |

(ب) گریڈ وائز آسامیوں کی تعداد مندرجہ ذیل ہے۔

تفصیلات لف ہیں۔

(ج) خالی آسامیوں کی تفصیل درج ذیل ہے۔

تفصیلات لف ہیں -

(ج) پرنسپل، ہیڈماسٹر اور ایس ایس کی تقرریاں پبلک سروس کمیشن کی سفارشات کی وصولی پر ہو جائیں گی جبکہ باقی تمام آسامیوں پر تقرریوں کے لئے انٹرویوز کا انعقاد ہورہاہے اور پابندی نہ ہونے کی صورت میں ان پر ماہ نومبر 1997 میں تقرریاں ہوجائیں گی۔

جناب احمدحسن خان : جناب سپیکر! یوخو ستاسو مشکوریم د دے سوال سره Related خما دا 80 نمبر سوال دے او بیا 81and 82 نمبر سوالات دی۔ صرف ستاسو دے طرف ته پام راړول غوارم۔ تاسو څوخله دا فرمائیلی دی چه دا په کوم نمبر کښې راشی نو په هغه نمبرو کښې به جوابونه راځی، په دے 80 پسے بیا خمونږ د یو بل معزز او محترم مشر د جناب میاں ولی الرحمان صاحب 125 نمبرسوال دے۔ خما خیال دے چه په 80 پسے په دغه سیریل نمبر کښې 80, 81 and 82 سوالات پکار وو۔

جناب سپیکر: په دے کښې احمد حسن خان صرف دومره کار وی کنه چه مونږه هر یو ایم- پی- اے Accommodate کول غوارو نو په دے وجه باندے چه د کوم ایم- پی- اے صاحب دوه درے Questions وی نو یو پکښې راشی کله پکښې بل راشی۔

جناب احمدحسن خان : ٹھیک ده سر، بالکل په دغه باندے پوهه یم۔ جناب سپیکر، خو خمونږه Problem دا دے لکه خمونږ د دے سوال جواب څه ځلورنیمے،

پنخه میاشتے پس راغے او بیا د دغه دوو سوالونو او دا بیا د هغے موقعے سره
چه کوم ضرورت وی، بیا رښتیا خبره دا ده چه هغه ضرورت پاتے هم نه شی۔
جناب سپیکر، بل ستاسو په وساطت سره دا عرض هم کول غواړم چه د جناب
منسټرصاحب په قابلیت باندے ما هیڅ شک هم نه دے کړے۔ پرون دوئ خبره
کړے وه، د کم علمئ خبره مے کړے وه او د کم علمئ مطلب نالائق توب نه
دے جناب سپیکر، د هغے مطلب دا دے چه په یو ټائم کښ به ماته د یوشے علم
نه وی نودا څما د دغه خبرے متعلق کم علم شو۔ دےCompetent سړے دے او
زه نے په دے لحاظ سره هم مشکوریم چه هغه بله ورځ چه کوم کال اټینشن
نوټس ستاسو په وساطت سره ما وړاندے کړے وو په هغے نے ډیر ښه محکمانه
غورکړے دے او زه نے د ډیر حده پورے مطمئن کړے یم اګرچه هغه مسئله
حل شوے نه ده خو زه مطمئن یم۔ ما صرف دا وے څکه چه پرون ما ته د
Personal explanation موقع ملاؤ نه شوه جناب سپیکر! په دے سوال کښ
که تاسو لږ اوګورئ د دے په "ب" جز
کښ دوئ په دے سکولونو کښ چه کوم خالی تعداد ښائی نو 208 یودی او 195
بل دی جناب سپیکر، نودا څه کم و بیش څه د پاسه څلورسوه آسامیانے خالی
دی اودا د دے ممبرانو د ټولو، د ټریژری بینچز نه تعلق لرونکو دوستانو او د
اپوزیشن نه هم دا مسلسل دغه ګله او شکایت دے چه سکولونه جوړشوے دی
او آسامیانے د فنانس او د ایجوکیشن او د پی اینډ ډی په مینځ کښ اصلی
خبره دا ده جناب سپیکر، زه وایم چه Co-ordination نشته،نو لهذا زه د
جناب منسټر صاحب نه دا تپوس کوم چه اوس موجوده صورت حال څه دے؟
څکه چه دا خو دوئ ته په هغه وخت کښ ورکوی او زه به دا عرض هم

ستاسو په وساطت سره اوکړم که مونږ ته Uptodate information راکوی نو دا به ښه خبره وی ځکه چه دا جواب ډیر مختصر راغلے دے۔ اوس په نورو سکولونو کښې نورے آسامیانے، او اوس ځما په خیال سره دا پنځه نیم سوه آسامیانو ته په ضلع دیرکښې دا صورت حال رسیدلے دے۔ نو د کله پورے هغوئ ما له دا یقین دهانی راکولے شی چه دا ټولے خالی آسامیانے به ډکے شی، د پاره د دے چه بچو ته Proper تعلیم ورکړے شی۔

سید منظور حسین ؛ جناب سپیکر صاحب! زه د خپلے حلقے د پاره د احمد حسن خان د سوال نه څه فائده اوچتول غواړم، خمونږه په مردان سټی کښې د جینکو یو هائر سیکنډری سکول دے او یو کالج دے۔ په هغه کالج کښې د داخلو مسئله ډیره زیاته سنګینه ده۔ اوس سحر هم ما ته د خپلے حلقے نه یو سړے راغلے وو چه 530 نمبرے ځما لور اغستی دی او هغے ته څوک داخله نه ورکوی نو زما دا عرض دے چه زه به درخواست منسټر صاحب ته اوکړم ستاسو په ذریعه باندے چه د جینکو د یو بل هائر سیکنډری سکول مونږ ته په مردان سټی کښې انتظام اوکړی نو ډیره به ښه وی جی۔

جناب عبدالسبحان خان ؛ پوائنټ آف آرډرسر! څنګه چه جی احمد حسن خان اووے چه تود تنور دے نو مونږ اووے چه مونږ به پکښې هم یوککوړے پورے کړو۔ ستاسو په اجازت باندے، د باچا صاحب په تائید کښې نن سحرڅه کسان ماسره هم ملاؤ شوی دی او حقیقت خبره دا ده چه روزانه جی خاص کر هغه خمونږه خویندے، لونړه او بچنی دی جی، هغوی ته په Admission کښې او بعضے خو پکښې په میرټ باندے هم راځی خو د لیکچررز د کمئ په وجه باندے هلته داخلو کښې ډیر لونے تکلیف دے نو خمونږه هغه بچنی جی

چرته لاړے شی؟ نودا جی یو داسے Important مسئله ده چه که په دے باندے منسټر صاحب که مهربانی اوکړی او څه په عارضی بنیادونو باندے بندوبست اوکړی نو مونږه به ئے مشکور یو جی۔

**Mr.Speaker:** Honourable Minister, please.

وزیرتعلیم : زه خو اول جی د خپل احمد حسن خان ورور مشکوریم جی چه د هغوی خما په لړ کښ هغه کومه بدگمانی وه هغه لرے شوه او ماخو دوئ ټولو ته وئیلی دی چه دا ټول خمونږه ورونړه دی۔

جناب احمد حسن خان : پوائنټ آف آرډر مسټر سپیکر سر! په دے سلسله کښ هم د ده کم علمی ده سر، خما خو هډو بدگمانی د سره وه نه۔

وزیرتعلیم : بدگمانی به په دے اووائم سپیکرصاحب، چه دوئ فرماتیلی وو، بی بی هم په هغه ورخ ناسته وه او هغے ته خمونږه هغه ټولے نمبرے ئے خرابے کړے ---(قهقهے)--- چه دے ایجوکیشن له بل یو ښه شان سړے اوګورئ، دے ئے نشی چلولے نوما ده ته په ګپ کښ اووے چه بهئی تا خو خمونږه هغه ټول کوم چه مونږه دا شپږ آته میاشتے خواری اوکړه هغه دِ ټوله ضائع کړه۔

جناب سپیکر: حقیقت دا دے چه ډیره خواری کوئ تاسو۔

وزیرتعلیم : سپیکرصاحب! زه د ده مشکور یم او دا ټول خمونږه ورونړه دی جی۔ مونږه هم د دغے سلسلے نه او د دغے لارے نه را وتلی یو۔ دوئ اوفرمائیل جی چه خالی آسامیانے دی نو زه صرف دوئ ته دا وتیل غواړم چه دا اشتهار خما سره پروت دے او ما ته دا مخامخ دے۔ دا ډیپارټمنټ کړے دے او په 8/10/1997 باندے دوئ د خلقو نه ټی ټی، اے ټی، پی ای ټی او دا کوم

سکیلونه چه دی د دے پوستونو د پاره هغوی Applications غوښتلی دی او انټرویوز پکښ روان دی، تیستونه پکښ اوشو، انشاء الله تعالٰی امید کوم چه زر تر زره به مونږ چه کوم پوستونه Fill up کولے شو، هغه به مونږ Fill up کړو۔ بعضے پوستونه مونږ سره سپیکرصاحب داسے دی چه هغه به پبلک سروس کمیشن کوی نو په هغے کښ هغوی مونږ له ایس ای ټی هم راکړل او ایس ایس ئے هم راکړل۔ څه پوستونه ورسره داسے دی۔ د Female د پاره ایس ای ټی یا ایس ایس چه هغه به هم هغوی مونږ ته زر تر زره راکړی۔ خومونږ د هغوی سره Contact شته او مونږه ئے Pursue کوؤ۔ هیډ ماسټران ګریډ 18 چه کوم دی، هغه به هم پبلک سروس کمیشن په خپل through باندے اخلی، په دے کښ څه portion داسے دے چه هغه به هغوی بهرتی کوی Directly، نو هغه هم انشاء الله چه څومره زر تر زره مونږ ته ملاوګشی نو خومونږ به خواهش او کوشش دا وی چه مونږ د دوئ دا سکولونه روان کړو او دا بلډونګونه چه کوم خرابیږی چه نور خراب نشی۔ څه مشکلات پکښ دا دی چه فنانس ډیپارټمنټ هم د بعضے پوستونو لا Sanction نه دے کړے نو د هغوی سره هم خومونږه Contact شته چه کله د هغوی نه مونږه ته Sanction راشی نو امید کوم زه زر تر زره به مونږ د دوئ دا سکولونه روان کړو او بیا هم که دوئ څه داسے متعلقه تپوس کول غواړی یا دوئ څه نور معلومات غواړی نو ما ته دِ اوفرمائی زه ورته تیار یم۔

جناب احمد حسن خان : جناب سپیکر ! یوخو یقیناً پرون معذرت نه دے شوے او آفسوس شوے دے، نن به زه دا آفسوس اوکړم چه زما ورور دا ګیله اوکړه چه دبی بی په مخکښ د هغه نمبرے خرابے شوے دی۔ یقیناً دا خما د پاره قابل

افسوس پہلو دے خو زہ ورلہ دا یقین دھانی ورکوم چہ ځما پہ حوالہ سرہ د هغه نمبرے به خرابیږی نه، انشاء الله تعالیٰ بی بی به نے نور په ښا باندے ډبوی او ښه کیږی به ---( قہقہہ )--- او ورسره ورسره جناب سپیکر زه د دوئ نه دا تپوس کول غواړم چه آیا دوئ به خپل متعلقه افسران Direct کړے شی چه هغوی ما له د هغه سکولونو فہرست راکړی په هفته، لس ورځو یا په دوه هفتو کښ چه په کومو سکولونو کښ دا آسامیانے خالی پرتے دی؟

وزیر تعلیم : که دوئ غواړی نو زه اوس دے Tea break کښ هم ورله ورکولے شم۔

جناب احمد حسن خان : ډیره مهربانی سر۔

وزیر تعلیم : او پاتے شوه خبره ځما د منظور حسین باچا او عبدالسبحان ورونړو چه هغوی وائی چه ځمونږ کالج دے او په هغے کښ ایډمشنز نه کیږی،نو حقیقت دا دے چه څومره د کالج په کلاس رومز کښ ځائے دے، د هغے مطابق هغوی ایډمشنز کړی دی او ضروری خبره ده جی چه خلقو سبق ډیر ونیلے دے او سکولونه هم په لاندے لیول کښ ډیر دی خو په کالجز سائیډ باندے کالجونه هم کم دی، نو مونږ به کوشش کوؤ چه که څه طریقه داسے را اووتله او که دوئ مونږه Accommodate کولے شو نو ډائریکټر کالجز هم مونږ راغوښتے دے، مونږ سره، چه Tea break اوشی نو دوئ دواړه به شی، زه به شمه او ډائریکټر کالجز به شی مونږ به کینو او که څه طریقے سره د دوئ دا مسئله حل کیدے شوه نو مونږ به نے انشاء الله حل کړو۔ پاتے شو ګورنمنټ ګرلز هائر سیکنډری سکول دوئ په مردان کښ غواړی نو په موجوده حالاتو کښ لږه ګرانه غوندے ده ځکه چه فنانشل حالات داسے دی چه

په دے باندے، دے وخت کښې غور نه شي کيدے۔ اميد دے چه دوئ به مطمئن وی۔

جناب پير محمد خان : جناب سپيکر صاحب ! لږ تپوس کوم چه دا نوی سکولونه چه کوم Up grade شوی دی هغے له پوسټونه راغلی دی نو په ټرانسفر او په پوسټنگ پابندی ده نو د دغے سکولونو د پوسټونو څه فائده هم نشته کنه تر څو پورے چه چالو شوی نه وی نو د دے د پاره به دوئ څه پروسيجر کوی۔

وزير تعليم : سپيکرصاحب ! په ټرانسفرز باندے خو پابندی ده خو په نوے اپوائنټمنټس باندے پابندی نشته۔ د هغے سکول هغه پوسټونه مونږ ايډورټائز کړی دی او انشاء الله خلق اخلو او زر تر زره به پوره شي۔

جناب سپيکر : آنريبل مياں۔ جی۔

جناب هايون سيف الله خان : څما په ضلع کښې جی د ګريډ ستره پوسټونو باندے ګريډ سوله سرى لګولی شوی دی۔ نو نن څو ما سره نومونه نشته جی خو د منسټر نه دا پوښتنه کومه چه ولے دوئ سره ګريډ سترہ افسران نشته ؟ څه وجه ده چه د ګريډ سترہ په پوسټ باندے ګريډ سوله يا ګريډ پندره افسران لګوی۔ او دا د حکومت پاليسی هم ده چه د ګريډ سترہ په پوسټ باندے به تاسو کم ګريډ والا نه لګوے۔ دا د ګورنمنټ خپله پاليسی ده۔

وزير تعليم : سپيکر صاحب ! زه صرف تاسو ته دومره وئيل غواړم چه کله زمونږ حکومت راغے نو واحد مونږه ، دے حکومت دا نوټيفيکيشن اوکړو چه کوم سکيل والا کوم سړے دے نو هغه په هغه ځائے باندے لګی۔ مخکښې داسے وو چه ګريډ 18,17 والا به په 19 باندے وو۔ داسے به هم وو

چه یو یو سړی سره به شپږ شپږ او آته آته Duel چارجز وو۔ نو زما په علم کښې خو داسے څه خبره نشته، دوئ سره چه څه وی ما له دِ لسټ راکړی او انشاء اللّٰه زه به ورله دا مسئله حل کړمه۔ اوس که دوئ دومره تکلیف کوی او دے Tea break کښې راته وائی نو هم زه به ورسره دا خبره اوکړم جی۔

جناب همایون سیف اللّٰه خان : زمونږ خو جی مختصر شان اپوزیشن دے کنه په ټولو ضلعو کښې به نے ټهیک کړے وی یو خمونږه ضلع پاتے ده جی--- (قہقہ)

نور خو د ټهوک په حساب باندے دی، مونږ خو دغه شپږ اته کسان یو کنه وروره۔

وزیر تعلیم : تاسو هم او د دے صوبے دغه ضلع هغه همره اهم ده څومره چه خمونږ چارسده اهم ده یا صوابئ اهم ده، تاسو مونږ ته هغه همره اهم یئی چه څنګه مونږ ته فرید طوفان اهم دے جی ---(قہقہے)---

ملک جهانزیب خان : خما یو عرض دے جناب سپیکر صاحب --(قطع کلامی)---

وزیر تعلیم : خمونږه ورور نے ----(قطع کلامی)--------

جناب احمد حسن خان : جناب منسټر صاحب دِ محتاط اوسی، ګورے په دے اهمیت باندے دِ سوچ اوکړی ---(قہقہے)------

جناب پیر محمد خان : مونږه نے په ګریډ 22 کښې شریک کړو خو هسے نه چه بیا مو کلاس فور ته راکوز کړی۔

ملک جهانزیب خان : خما جی یو عرض دے او هغه دا چه د پبلک سروس کمیشن نه چه کوم ایس ای ټی استاذان Recommend شوی دی، د هغے وضاحت خو منسټر صاحب اوکړو، خو زه دا عرض کومه جی چه د دوئ اپوائنټمنټ دِ ژر اوشی چه دا خالی ځایونه ډک شی۔

وزیرتعلیم : جناب سپیکر صاحب! پبلک سروس کمیشن مونږ له 144, S.E.Ts راکړی دی۔ اپوائنټمنټس ئے شوی دی، صرف د هغوی میډیکل پاتے دے او لږ معمولی Formalities پکار دی۔ امید دے چه دے لس اَته ورځو کښ به پوره شی۔

ملک جهانزیب خان : بل عرض مے جی دا دے، چه څما په حلقه د جینکو دا سکولونه بالکل خالی پراته دی، اپوائنټمنټ پکښ شوے دی خو جینکئ ډیوټی نه کوی۔ نو زه د آنریبل منسټر صاحب په نوټس کښ د سکولونو دا نومونه راولم جی۔ جی پی ایس ---(قطع کلامی)---

جناب سپیکر : دوی له ئے روستو ورکړئ جی --- (قطع کلامی)-----

وزیرتعلیم : دوئ ما له راکړی نو انشاءالله دا به ورله برابر کړو۔

جناب سپیکر : ډائریکټران صاحبان ورسره هم موجود دی او چه Tea break اوشی نو دا لسټ هم ورله ورکړئ۔

ملک جهانزیب خان : ښه جی، دا استاذانے د سره ډیوټی نه کوی او دا سکولونه بند دی۔

وزیرتعلیم : دا لسټ اوس راکړه، زه به ئے درله بندوبست اوکړم۔

ملک جهانزیب خان : ټهیک شوه جی۔

**Mr.Speaker:** Honourable Mian Wali -ur- Rehman Khan MPA to please ask his Question No. 126.

*126 میاں ولی الرحمان: کیا وزیرتعلیم ازراہ کرم ارشاد فرمائینگے کہ۔

الف)۔ آیا یہ درست ہے کہ گورنمنٹ گرلز کالج مانسہرہ ضلع کوہستان اور بٹگرام کا

واحد ڈگری کالج ہے؟

ب)۔ آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ کالج میں طالبات کی بڑی تعداد کو ہر سال داخلہ نہیں ملتا جسکی وجہ سے طالبات تعلیمی سلسلہ جاری نہیں رکھ سکتیں؟

ج)۔ اگر (الف) اور (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو حکومت مذکورہ کالج میں توسیع کر کے داخلہ کے مسئلہ کو حل کرنے کے لئے تیار ہے؟

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): (الف)۔ یہ درست ہے۔

ب)۔ درست نہیں۔

ج)۔ مذکورہ کالج میں مقرر کردہ نشستوں کی تعداد کے مطابق طالبات کو متعلقہ کلاسز میں میرٹ کی بنیاد پر داخلہ دیا جاتا ہے۔ اس سلسلے میں سال رواں کے اعداد و شمار درج ذیل ہیں جنکے مطابق طالبات کی ایک بہت بڑی تعداد کو داخلہ کی سہولت بہم پہنچائی گئی ہے۔

Detail of Students admitted

In first year /Third year classes in Govt Girls College Mansehra 1994-1997

| Year | Class | Total applications received | | Total Students admitted | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Arts | Science | Arts | Science |
| 1994-95 | Ist year | 283 | 60 | 283 | 60 |
| ....do... | 3rd year | 115 | - | 106 | - |
| 1995-96 | Ist year | 320 | 65 | 301 | 60 |
| ...do... | 3rd year | 140 | - | 131 | - |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1996-97 | Isr year | 340 | 66 | 309 | 60 |
| ...do.. | 3rd year | 162 | - | 133 | - |
| 1997-98 | Ist year | 369 | 80 | 318 | 60 |
| ..do.. | 3rd year | 195 | - | 119 | - |

Detail of Students Admitted in First year /Third year class in Govt Girls College Mansehra Belonging to Kohistan and Bat Gram Areas during the year 1996-97-98.

| Year | Class | Total Applications from Kohistan Recieved- | Admitted | Total No of Students from Bat gram. Recieved- | Admitted |
|---|---|---|---|---|---|
| 1996-97 | 1st year | Nil | Nil | 5 | 5. |
| ..do.. | 3rd year | Nil | Nil | 1 | 1 |
| 1997-98 | 1st year | Nil | Nil | Nil | Nil |
| ..do.. | 3rd year | Nil | Nil | Nil | Nil. |

جناب عاشق رضا سواتی : جناب سپیکر صاحب! د ولی الرحمن خان په دے سوال باندے زه یو ضمنی سوال کومه ۰ او فائده به ترینه واخلمه جی که اجازت راکوئ۔ ولی الرحمن صاحب چه کومے مسئلے ته اشاره کړے ده جی، واقعی دا خمونږ په ضلعے کښې یو ډیر لوئے پرابلم دے۔ خمونږ په ضلع کښې درے ډیر لوئے تحصیلونه دی او د هغے د پاره یو کالج دے، یو د هلکانو د پاره او یو د جینکو د پاره۔ نو زه دا درخواست کومه جی چه خمونږ په حلقه کښې، علاقه کښې، یا په ضلعے کښې، هر یو تحصیل کښې مونږ ته کم از کم یو، یو انټر کالج

ډیر ضروری دے۔ د آبادئ په لحاظ سره هم جی په پوره هزاره کښې د مانسهره ضلعے آبادی د ټولو نه زیاته ده۔ نو زه ستاسو په وساطت سره وزیر موصوف ته دا گزارش کومه چه په دے ډیر سوچ اوکړی او مونږ سره دے مهربانی اوکړی جی۔

جناب محمد طارق خان سواتی ۔ جناب سپیکر! اس میں میرا بھی ایک ضمنی سوال ہے۔ میرے خیال میں پہلے میں بات کرلوں تو پھر اس کے بعد یہ جواب دیں۔ جناب سپیکر ضلع مانسہرہ میں گرلز کے لئے ایک ڈگری کالج ہے اور یہ صرف ضلع مانسہرہ کا نہیں ہے بلکہ ضلع بٹگرام اور ضلع کوہستان کی ضروریات بھی پوری کرتا ہے۔ جناب والا' سٹاف کی اکثر کمی رہتی ہے اور اس کے ساتھ ساتھ جی سائنس کی کلاسسز بھی ہمارے پاس نہیں ہیں جن کے لئے ہماری بچیوں کو' طالبات کو سائنس میں داخلہ لینے کے لئے ایبٹ آباد یا صوبے کے کسی اور کالج سے رجوع کرنا پڑتا ہے۔ جناب سپیکر ان حالات میں جبکہ دو وقت کی روٹی پیدا نہیں ہوسکتی یہ غریب لوگ ہیں اور وہ کس طرح اور ان کے والدین کس طرح یہ Afford کرسکتے ہیں؟ جناب سپیکر بہت Intelligent بچیاں' انتہائی قابل بچیاں ذہین بچیاں جو ہیں وہ تعلیم سے محروم رہ جاتی ہیں۔ میری اس سلسلے میں گزارش یہ ہے کہ میں جناب وزیر صاحب کو دعوت دیتا ہوں اپنی طرف سے اور اپنے جملہ اراکین ضلع مانسہرہ کی طرف سے کہ وہ اس اجلاس کے بعد یعنی جب یہ اجلاس ختم ہوجائے تو وہ ہمارے ساتھ مانسہرہ جائیں' ہم ان کو دونوں کالجوں کی Visit کرائیں گے اور ان دونوں کالجز کے جو مسائل ہیں ' بلڈنگز ہمارے پاس موجود ہیں ہمیں کوئی نئی بلڈنگ نہیں چاہیے' اگر ہمیں سٹاف مل جائے اور سائنس کلاسسز کے ساتھ اگر ہمیں لیبارٹریز بھی مل جائیں تو میرے خیال میں ہمارا یہ مسئلہ حل ہوسکتا ہے۔ جناب سپیکر! ہمارے گرلز کالج میں ایک منی بس پہلے سے تھی لیکن کچھ عرصہ ہوا کہ وہ بس ناکارہ ہوچکی ہے۔ اب جناب سپیکر! آج

کل جب کہ مرد حضرات پرائیویٹ ٹرانسپورٹ میں سفر نہیں کر سکتے تو یہ بچیاں جو دور سے آتی ہیں ، ان کے لئے آنے جانے میں بڑی دشواریاں ہیں، تو میں یہ گزارش کرونگا جناب ہاشم خان صاحب (وزیر تعلیم) سے، آپ کی وساطت سے کہ ہاشم خان صاحب ایکDatefix کر لیں، وہ مانسہرہ کا دورہ کریں ہم انہیں ساتھ لے جائیں گے، انہیں دونوں کالجز میں لے جا کر وہاں کے جو مسائل ہیں وہ ان کے سامنے رکھیں گے اور میں یہ سمجھتا ہوں کہ ہاشم خان صاحب جیسے وزیر کی موجودگی میں انشاء اللہ تعالیٰ ہمارے یہ مسائل حل ہو جائیں گے۔ شکریہ جی۔

جناب اکرم خان درانی ۔ جناب سپیکر صاحب! د دے متعلق خما هم یو ضمنی سوال دے که ستاسو اجازت وی۔ لکه څنګه چه طارق خان صاحب اووئیل خمونږ په بنوں کښې صرف یو ډګری کالج دے په هغے کښې سارهے تین هزار طلباء دی۔ نو مونږ مخکښې د قومی جرګے په سطح باندے چیف منسټر صاحب سره ملاقات اوکړو۔ او هلته مونږ سره د کالج بلډنګ، اولډ کامرس کالج بلډنګ خالی دے۔ نو په هغے کښې چیف منسټر صاحب ته مونږ دا ګزارش اوکړو چه چونکه خمونږ په ډګری کالج باندے تعداد ډیر زیات دے او د ډګری کالج پرنسپل صاحب وائی چه ما ته د سټاف هم ضرورت نشته دے خو چه مونږ ته د ګورنمنټ طرف نه دومره اووئیلے شی چه تاسو دا سیکنډ ډګری کالج په دے اولډ کامرس کالج بلډنګ کښې شروع کړئ۔ نو د افسوس خبره خو دا ده چه خمونږ چیف منسټر یو ذمه دار او د دے صوبے مشردے، د دے باز محمد خان هم ګواه دے او د بنوں د قومی جرګے ټول مشران هم د دے ګواه دی چه د هغوی الفاظ هم دا وو چه په دوه میاشتو یا په یو میاشت کښې په هغے کښې کمشنر بنوں هم وو او سیکرټری ایجوکیشن هم وو چه په دوه

میاشتو کښې دننه دننه په بنوں کښې سیکنډ ډګری کالج تاسو Start کړئې نوخمونږ د منسټر صاحب نه دا ریکویسټ دے چه چونکه هغه خبره د دوئ سره شته او مونږ ته جی د بلډنګ ضرورت نشته، مزید د اضافی سټاف ضرورت نشته، که دوئ په دے هاؤس کښې مونږ ته دا تسلی راکړی چه هغه خو یوه میاشت یاده کړے وه خو خما خیال دے چه یو کال د چیف منسټر صاحب په هغے حکم باندے تیر شو- نو دے منسټر صاحب ته خمونږ ګزارش دا دے چه دلته دے نن مونږ ته داسے خبره اوکړی چه هغه خانے کښې مونږ ته هغه سیکنډ ډګری کالج شروع کړی جی- د ګورنمنټ هیڅ قسم فنډ پکښې Involve نه دے-

<u>جناب باز محمد خان</u> : محترم سپیکر صاحب! لکه څنګه چه اکرم خان خبره اوکړه جی- په دے سلسله کښې خمونږ جرګه چیف منسټر صاحب سره ملاؤ شوے وه او دوئ مونږ سره دا وعده کړے وه چه تاسو ته به سیکنډ ډګری کالج درکوؤ او د افسوس خبره خو دا ده چه دا خو مخکینئی 1996-97 چه کومه اے ډی پی وه په هغے کښې خمونږ د سیکنډ ډګری کالج د پاره Non developmental side باندے او په Developmental side باندے دواړه دغه کښې دا راغلے وو خو د دے باوجود چه مونږ سره چیف منسټر صاحب وعده اوکړه، او دوئ خو درے نیم زره کسان یادوئ خو خما په خیال هلته په یو کالج کښې پنځه زره کسان دی - پنځه زره کسان دی جی او روزانه هغه کالج بند وی، چونکه هلکان ډیر دی کمرے، Accommodation نے نشته دے- نو خما د منسټر صاحب په خدمت کښې ګزارش دا دے چه کم از کم په هغه کامرس کالج کښې دوئ دِ دَسیکنډ ډګری کالج کلاسونه مونږ ته شروع کړی-

**Mr. Speaker:** Honourable Minister.

جناب محمد ایوب آفریدی ، سر! میرا بھی --------( قطع کلامی )-----

وزیر تعلیم : جناب سپیکر!--------( قطع کلامی )-------

جناب محمد ایوب خان آفریدی ، پہلے سر میں ایک ضمنی سوال کرلوں۔ تو پھر سر! اسی سلسلے میں، میں نے اپنا ایک کوئسچن دیا تھا جو میرے خیال میں نہیں آیا ہے اس سیشن میں اور شاید آگے آ جائے ۔ جناب سپیکر! یہاں سب حلقوں کی باتیں ہوتی ہیں، میرے حلقے میں بچیوں کے لئے کوئی بھی ہائر سیکنڈری سکول نہیں ہے۔ تین سال سے ایک ہائر سیکنڈری سکول شیروان منظور ہو چکا ہے اور تین سالوں میں یہ کیوں نہیں شروع ہو سکا؟ اس میں تو ویسے بحث کی ضرورت نہیں ہے۔ میں پانچ چھ مہینوں سے یہ کوشش کررہا ہوں، میں نے اپنا کوئسچن بھی دیا ہے جو کہ نہیں آیا۔ سیکنڈ اجلاس تک تو مزید ٹائم لگ جائے گا جی۔ میں وزیر موصوف سے یہ کہونگا کہ ہائر سیکنڈری سکول شیروان جو بچیوں کے لئے منظور ہوا ہے اور کمشنر صاحب نے اس پر میٹنگ بھی کی ہے لیکن ٹالا جا رہا ہے، چونکہ فنڈ بھی موجود ہے تو اس کو مہربانی کرکے شروع کیا جائے ۔

میاں افتخار حسین : سپیکر صاحب! ---- ( قطع کلامی )---

جناب محمد ایوب خان آفریدی ، جناب یہ ہمیں بتائیں کہ کب تک شروع کریں گے تاکہ ہمیں کچھ یقین دہانی تو ہو جائے ۔

میاں افتخار حسین : جناب سپیکر صاحب! هم په دغه سلسله کښې جی خمونږ د پېښو د جینکو د هائر سیکنډری سکول مسئله وه، د جینکو د هائر سیکنډری سکول مخکښې جی منظوری شوې وه، په مینځ کښې بیا واپس شوه او تر اوسه پورې دوئ به ونیل چه بیا به ئې هلته منظور کوو نو په دې سلسله

کښې زه منسټر صاحب ته خواست کومه چه په هغه سلسله کښې څه شوی دی او که څه نه وی شوی چه مونږ ته څه جواب راکړی۔ د پبو هائر سیکنډری سکول یا که تاسو ورته گرلز کالج واینی د هغے۔۔۔

جناب قیموس خان : جناب سپیکر! د دے سوال نوعیت خو بل طرف ته لاړو، ضمنی پرے ډیر اوشو۔۔۔۔۔۔(قطع کلامی)۔۔۔۔۔

جناب سپیکر : سوالونه به مو پاتے کیږی، دے ته سوچ کوئی۔

جناب قیموس خان : په دے سلسله کښې۔۔۔۔(قطع کلامی)۔۔۔۔

جناب شیرزمان شیر : په ایجوکیشن باندے تحریک التواء د بحث دپاره منظور شوے دہ په هغے دے بیا بحث اوکړی کنه۔

جناب قیموس خان : په دے کښې جی څما عرض دا دے چه هم په دے سلسله کښې ما هم خپل یو سوال ورکړے وو چه په سوات کښې دویم ډگری کالج منظور شوے دے چه د کرائے په بلډنگ کښې سبق وئیلے کیږی۔ په هغے کښې د فرسټ ائیر د داخلے، هلکانو له داخله نه ورکوی په هغه سلسله کښې دے منسټر صاحب هغوی ته دغه اوکړی خکه چه د هغے هغه لیکچرران یا پرنسپل هغه دا لیکلی ورکړی دی چه مونږ دوئ ته سبق ښودلے شوخو صرف د هغوی د داخلے مسئله ده سپیکر صاحب او سوات ډیره غټه ضلع ده۔

حاجی بهادر خان (دیر) : هم په دغه سلسله کښې، خمونږ هم د مونډه هائر سیکنډری سکول په 1996ء کښې Sanction راغلے وو او لاتر اوسه پورے پکښې کلاسونه نه دی شروع شوی نو که منسټر صاحب مهربانی اوکړی په هغے کښې د کلاسونو بندوبست اوکړی۔

میاں افتخار الدین : جناب سپیکر صاحب! دا مسئله دا سے راوچته شوه چه

هر څوک پکښې خپله حصه اخلی نو مونږ وے چه تود تنور دے مونږ به پکښې هم یو روټئ پورے کړو۔

جناب سپیکر : ټول ټائم مو یو ګهنټه دے، څنګه مو چه خوښه وی په کومه ئے تیروے تیر ئے کړے۔

میاں افتخار الدین : جناب سپیکر صاحب! خما خپل یو تجویز غوندے دے چه منسټر صاحب له پکار دی چه د صوبے په ټولو سکولونو باندے اوګرځی۔ داسے هائر سیکنډری سکول خما په حلقه کښې دوه ځایونو کښې دی خو په هغے کښې د ماسټرانو کمے دے نو مطلب دا دے چه کوم مقصد د پاره جوړ دی هغه مقصد تر ینه نه حاصلیږی۔ نو ښه به دا وی چه دوئ لږ په صوبه کښې اوګرځی، ورشی چه کوم ځائے کښې کمے وی چه هلته ئے دوئ په خپله باندے پوره کړی جی۔

جناب نیک عمل خان : جناب سپیکر! ما خو یو تحریک التواء او توجه دلاؤ نوټس دا هر څه مے ورکړے دی ---------(قطع کلامی)-----

جناب سپیکر : دا خو کونسچنز دی په دے کښې خبره کوئ۔

جناب نیک عمل خان : تر اوسه پورے خما په خیال جی یو هم نه دے راغلے۔ هغے مخکښې اسمبلی اجلاس کښې مو ورکړے وو۔

جناب سپیکر : بالکل جی راځی به، په نمبر نمبر ټول راروان دی، که خیر وی هم په دے کښې به راځی۔

جناب نیک عمل خان : هم په دے سلسله کښې مو جی ورکړے وو خو تر اوسه پورے یو هم ------(قطع کلامی)-------

جناب سپیکر : نن دِ هم ما دوه ایډمټ کړی دی، راځی به، سبا ئے کوره بل

سبا ئے گورہ انشاء اللہ زر تر زرہ راروان دی۔ اسمبلی ډیرہ اوږدہ دہ، گبراویږئ مہ۔ Prorogue کیږی نہ۔

جناب نیک عمل خان ، ښہ جی کہ اسمبلی اوږدہ وی خو خیر دے او کہ د اسمبلی دوہ درے څلور ورځے وی نو چہ بیا مونږہ خپلہ خبرہ اوکړو نو ښہ بہ وی۔

جناب سپیکر ، کوئی جی۔ خبرہ اوکړئی جی۔

جناب نیک عمل خان ، خما ہم جی دغہ شان یو ھائر سیکنډری سکول دے او ھغہ جوړ دے بلډنگ ئے شتہ ھر څہ ئے شتہ خو تر اوسہ پورے پکښ نہ څہ استاد شتہ او نہ پکښ نور څہ شتہ او ھغہ ہم دغہ شان پروت دے Even څوکیدار پکښ ہم نشتہ۔ خلق ورتہ راځی او خرابے پکښ پیدا کوی۔ دغہ شان جی خمونږ پہ ثابت ملاکنډ ضلع کښ د جینکو یو کالج دے چہ ھغہ پہ تھانہ کښ دے، خمونږہ دیخوا پہ تحصیل کښ د سرہ د جینکو ھډو کالج نشتہ دے۔ خما وزیر صاحب تہ دا اپیل دے چہ ھائر سیکنډری سکول پہ سخاکوټ کښ جوړ دے بلډنگ ئے شتہ ھر څہ ئے شتہ پہ ھغے کښ دے مونږ تہ د کالج د پارہ اجازت راکړی۔

جناب سپیکر ، آنریبل منسٹر پلیز،

جناب سید احمد خان ، سر ! اس سلسلے میں، میں بھی منسٹر صاحب سے پوچھنا چاہتا ہوں کہ۔۔۔ (قطع کلامی)

جناب سپیکر ، منسٹر صاحب ہم خوشحالہ دے چہ ټول وخت پہ دے یو سوال کښ تیر شی۔

جناب سید احمد خان ، سر! میرے حلقے PF- 72 چترال یں ھیک زنانہ ڈگری کالج چار

سال سے قائم ہے۔ چار سال گزر گئے سوائے ایک پرنسپل کے وہاں کوئی لیکچرر نہیں ہے۔ میں اس سلسلے میں منسٹر صاحب سے پوچھنا چاہتا ہوں کہ آیا آپ کا وہاں پر لیکچررز جلد بھیجنے کا کوئی پروگرام ہے یا نہیں؟

جناب سید رحیم خان ، یره جی زه پکښې هم یو ، که اجازت وی، خبره اوږده شوه او زهٔ پکښې پاتے وومه۔ محترم سپیکر صاحب ستاسو په وساطت باندے زه د محترم وزیر تعلیم صاحب په نوټس کښې دا خبره راولمه چه خموږ باچا کلی کښې یو هائر سیکنډری سکول دے په هغے کښې موجوده فیمیل پرنسپل نظم و نسق چلوی او هغے ته چه کوم اصلی سټاف پکار دے، هغه سټاف ورته نشته ۔ د کلاس فور په سلسله کښې دوه کلاس فور نوکرے وے جناب نو محترم وزیر تعلیم صاحب موږ له باقاعده منظوری راکړے ده۔ Relaxation ئے راکړے دے چه دا کلاس فور دِ بهرتی شی خو تر ننی تاریخ پورے، چه کومه ډی۔ ای۔ او ده شاد بیگم نوم ئے دے او په سوات کښې پاتے کیږی، تر نن پورے هغه کلاس فور نوکران هغے بهرتی نه کړل۔ نو په دے سلسله کښې، او تر د دے پورے چه منسټر صاحب پرے موږ له Relaxation هم راکړے دے نو زهٔ دا ریکوسټ ستاسو په وساطت دوئ ته کوم چه دغه ډی۔ای۔او ته دِ فوری طور باندے هدایت اوکړی چه Female کومه ده۔ شاد بیگم چه هغه فوری طور باندے کلاس فور نوکران چه کوم دوئ ورته پکښې لیکلی هم دی،Relaxation ئے هم ورکړے دے چه د دوئ فوری طور باندے تقرری اوکړی جناب اوچه کوم سټاف فی الحال یعنی لا نه دے راغلے، هغه سټاف هم موږ له پوره کول پکار دی جی۔

**Mr.Speaker:** Honourable Minister please.

جناب رضا خان: پوائنټ آف آرډر سر۔

جناب سپیکر: جی۔

جناب رضا خان: خمونږ جی ګرهتی کښې تقریباً دوه نیم کاله اوشو چه هائر سیکنډری سکول جوړ شوے دے، سټاف هم اوس Sanction شوے دے دا تقریباً څلور پنځه میاشتے اوشوے او تر اوسه پورے نه سټاف راغلے او هغه سکول جی اوس ورانیږی او هغه واټرنګ خونے تقریباً ټول خراب شوے دے او نور سکول هم اوس خرابیږی نو خما منسټر صاحب ته دا خواست دے چه دا سټاف Sanction شوے دے چه دا سمدستی مونږ ته را اولیږی او دا سکول کُهلاؤ شی۔ د داخلے هم جی دغه شان حال دے، داخلے هم نه ملاویږی څکه چه په مردان کالج کښې هم سیټونه نشته په میرټ باندے داخلے دی نو هلته هم نه میلاویږی۔ بل خمونږ کلے نے جی په دوه حصو کښې تقسیم کړے دے یو خیر آباد کالج ته، دوه هائی سکولونه دی نو وائی د یو سکول هلکان به خیر آباد کالج کښې داخلیږی او د بل سکول هلکان به په مردان نمبر چار سکول کښې داخلیږی۔ په هغے کښې هم جی ډیر کسان څنګکال د داخلو نه پاتے شول څکه چه په میرټ باندے داخله ده او د هغوی نمبرے کمے وے نو هغوی دغه شان پاتے شول۔ نو مهربانی دے اوشی چه دا هائی سیکنډری سکول چه څومره زر کیدے شی، خما منسټر صاحب ته خواست دے چه دا کُهلاؤ شی۔

سید منظور حسین: سر! زه معافی غواړم۔ جی اصل کښې دا خبره دوئ ډیره اهمه اوکړه دا تیر شوے ګورنمنټ کښې څه پالسی جوړه شوے وه کالجونو ته نے سکولونه حوالا کړی دی هغے جی تباهی راوستے ده۔ کالج کښې سیټونه نے، او هغوی یریږی چه پالیسی چونکه زړه ده نو د هغے په وجه باندے

داخلے نه ورکوی نو زه خو وائم دغه پالیسیReconsider کړئ جی۔

جناب سپیکر : پیر محمد خان تاسو وائئ۔

جناب پیر محمد خان ، دوئ نه دا تپوس کومه چه دوئ له اکثر Question ورکړی او بیا نه وی۔ دا دویم دریم خل دے زه وائم ورک شوے دے۔

جناب سپیکر ، دغه، دا دریم خل دے۔۔۔ (شور)۔۔۔۔

جناب پیر محمد خان ، نو د هغے په ځائے ځکه چه هغه د دے سرکاری پارټئ ممبر دے نو دوئ د هغه ته جواب اوکړی چه هغه ولے نه وی په Questions Hour کښې۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: Question Hour میں ضمنی سوال ہو سکتا ہے چاہے Question کا Mover موجود ہو یا نہ ہو۔ یہ جو کارروائی ہو رہی ہے یہ ٹھیک ہو رہی ہے۔ اس کے پوچھنے کی ضرورت نہیں ہے، کہ ہے یا نہیں۔

جناب عاشق رضا سواتی : سپیکر صاحب! زه د پیر محمد لالا سره چه کومه دا خبره دوئ کړے ده جی، د دے جواب درکوم۔ مونږه د یو ضلعے نه تعلق لرو۔ که میاں صاحب نشته هیڅ فرق نه پریوځی۔ خمونږه مسائل هم یو دی او خمونږه ضلع هم یوه ده نو مونږه په هغے خبره کولے شو۔

جناب محمد طارق خان سواتی : جناب سپیکر! میاں صاحب ہمارے روحانی پیشوا ہیں۔ میاں صاحب اگر موجود نہ ہوں تو ہم ان کے چیلے یہاں پر بیٹھے ہوئے ہیں اور ہم انشاء اللہ بات کریں گے۔

جناب سپیکر ، اوس خما یو عرض هم واورئے تاسو ممبرانو صاحبانو په خدمت کښې یو عرض کومه چه کوم Questions پاتے شی نو تاسو ته Already د هغے جوابونه Table شوی دی نو مهربانی اوکړئ د اسمبلی

وخت هم بیا مه خرابه وئی او خپل هم۔ ستاسو بیا درخواستونه راځی For restoration, and there is no provision what so ever under the rules for restoration هاں جی، نو په دے باندے لږ هسے د اسمبلئ هم وخت خرابیږی ستاسو هم وخت خرابیږی نو چه کوم Question ستاسو پاتے شی، لکه اوس به دا یو Question پیر محمد خان اووے چه دا کافی دے۔ او هاشم خان هم ورته ښه په طبیعت کښ ناست دے وائی، دا بل هم وائی، ښه جی۔

حاجی محمد یوسف خان: جناب سپیکر! زه خو دومره ګزارش کومه چه په دے کښ خوونړ اهم سوالات دی۔ چه هغه پاتے شی نو دا به خوونړ سره زیاتے نه وی؟

جناب سپیکر: اوس قانون داسے دے، ستاسو خوښه ده جی چه تاسو څنګه کوئی نو په هغه طریقه باندے، هغے کښ خو بل څه نشته، جی منسټر صاحب، نجم الدین خان تاسو څه وائے؟

جناب نجم الدین: سر ما ونیل هسے نه چه خما دا، نن په ریکارډ داسے راشی چه نجم الدین هډو څه خبره اونکړه نو چه زه پکښ هم خپل نوم اولیکم په دے کاغذونو کښ۔ سر، خما دا عرض دے جی چه ضمنی سوالونه، Questions Hour خو یوه ګهنټه وی سر او په هغے کښ ضمنی سوالونه درے وی۔ دا خو خما خیال دے د Discussion د پاره کیږدئ سر چه په هغے باندے ښه پوره Discussion اوشی۔ خوونړ ډیر مسائل دی هغه به منسټر صاحب سره پرے باندے بحث اوکړو او تحریک التوا د دے د پاره منظور شوے وه۔ غونډه ورخ د دے د پاره پکار ده سر۔

جناب سپیکر: خبره کوئی۔

جناب نجم الدین: نوټس مونږه ورکړے وو چه دا Convert کړئ دا رول 48 ته چه په دے باندےDiscussion اوشی۔ چه داQuestion دی۔

جناب سپیکر: Discussion پرے پوره اوشو۔ نجم الدین خان څه دپاره په بل۔۔۔۔۔ (قطع کلامی)

جناب نجم الدین: هغه خو مطالبے اوشوے جی څه تقریرونه خو په۔۔۔۔

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: ورځے درسره لږے دی۔ بلاImportant څیزونه ستاسو پاتے دی۔NFC هم پاتے ده۔Full days دی پکښ بل یو فیډرل منسټر صاحب هم ریکویسټ کړے دے هغه هم وائی چه زه هم درځم تاسو ته څه خبرے کوم نو مطلب دا دے چه دا پریږدئ چه جواب ئے اوشی جی۔

جناب نجم الدین: ټهیک شو۔ سر ټهیک شوه۔

(وزیر تعلیم): جناب سپیکر صاحب! زه د میاں ولی الرحمان صاحب ډیر مشکور یم چه داسے سوال هغه پورته کړے دے۔ په دے اسمبلئی کښ چه ځما دے ټولو ورونړو په خپلو خپلو حلقو هغوی خپل اظهاراوکړو د تکلیفونو۔ زه صرف دومره وئیل غوارم عاشق رضا سواتی صاحب ته چه یره دوئ وائی یوکالج دے د جینکو یو د بوائز د پاره دے نو چه دا زیات شی، انشاالله چه کله هم مونږ سره فنډ راشی او کله هم داسے حالات جوړ شو نو انشاء اللهٰ که خیر وی مونږ به دوئ ته د دویم کالج د جوړولو دپاره فنډ ورکړو۔ طارق سواتی صاحب دعوت مونږ ته راکړو دعوت ئے قبوله ووم او امید کوم ---- (قطع کلامی)

جناب عاشق رضا سواتی: سپیکر صاحب! څنګه چه دوئ د فنډ نوم واخلی کنه جی نو مونږه پوهه شو چه دا کار اوس نه کیږی جی۔

وزیر تعلیم: نه جی انشاء اللّٰه فنډ به۔۔۔ (قطع کلامی)

جناب عاشق رضا سواتی: دا فنډ به کله راځی جی۔ دا به د کوم ځائے نه راځی او کله به راځی؟ مونږ سره د دے څیز ډیر زیات فکر دے جی۔

وزیر تعلیم: امید دے زر تر زره به که خیر وی راشی۔ او دغه خو چونکه چیف منسټر صاحب د خزانے وزیر هم دے نو هغه سره به هم کینو معلومات به د هغوی نه هم اوکړو چه څنګه هغوی مونږ ته څه اووے نو هغه شان به زه دا خبره بیا دوئ ته هم Convey کړم۔ طارق سواتی صاحب خبره اوکړه د کالج د پاره چه مونږ له دے دویم ډګری کالج جوړ شی نو انشاء اللّٰه کله که خیر وی د فنډ حالت جوړ شو نو درله به اوکړو۔ پاتے شوه خبره د دعوت نو دعوت ئے قبلوؤ او ورځو به زه خو(قطع کلامی)

جناب محمد طارق خان سواتی: اگلے تعلیمی سال سے جی۔ اس سال سے نہیں۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! ما هم په هغه بل سوال کښ ضمنی سوال کولو خو هغه تاسو ته پته وه، د ګورنمنټ ډګری کالج یا ګورنمنټ ګرلز کالج تیمرګره څه دوه نیم کاله کیږی چه هغه Establish شوے دے تر اوسه پورے په هغے کښ کلاسز نه دی شروع شوی۔ ستاسو په وساطت سره زه د جناب منسټر صاحب نه دا تپوس کوم چه هغوی به د دے تحقیقات اوکړے شی اوما به په دے پوهه کړے شی چه د کله پورے به په هغے کښ لیکچررز فراهم کړی او کلاسونه به پکښ شروع کړی؟

جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب! ہمارے ہاں بھی ایک کامرس کالج تیار ہو گیا ہے۔ بہت خوبصورت بلڈنگ ہے اس کی مگر اس کے لئے سٹاف نہیں ہے۔ ابھی انہوں نے کچھ انتظام تو کیا ہے باہر سے سٹاف منگوایا ہے مگر ان کے لئے اپنے لوکل سٹاف کی منظوری اگر جلد دے دیں تو بہت اچھا ہو گا جی۔

جناب باز محمد خان: محترم سپیکر صاحب! خمونږ په بنوں کښې یو گرلز ډگری کالج دے، په هغه کښې نه ده اوبو بندوبست شته او نه د بجلئی بندوبست شته۔ کالج شته، هغه ئے نشته، په دے گرمیانو کښې هم هغه جینکئی داسے ناستے وے او څه بندوبست ئے نه وو ۔ اوبه هسے هم نشته، نه ټیوب ویل شته پکښې او نه دغه شته پکښې او ځنې سکولونه داسے دی لکه زه د خپلے حلقے د "ککی" خبره به اوکړم چه هلته یوهائر سیکنډری سکول دے په هغے کښې د سائنس کلاسونه نشته سائنس ټیچران نشته۔ نه په گرلز کښې شته دے جی او نه په بوائز کښې شته دے۔ داسے په نورنگ کښې چه هلته هائر سیکنډری سکول دے او په هغے کښې نه سائنس ټیچر شته او نه د سائنس څه لیبارټری شته۔ نو د منسټر صاحب په خدمت کښې دا عرض کوم چه که دا مهربانی اوکړی چه بنوں کښې دا گرلز کالج چه دے هغه به چرته ځی، اوبو به څنګه څښکی او په گرمیانو او په سردیانو کښې د بجلئی بندوبست ئے نشته ۔ هغوی به څه کوی؟ نوگزارش مے دا دے چه منسټر صاحب په دے باندے لکه اوس که څه داسے کیدے شی، واپډے والا ته اووائی یا پبلک هیلتھ والا ته اووائی او فوری اقدامات واخلی چه د دے مسئلے څه حل راوځی۔ مهربانی جی۔

جناب سپیکر: جی عبدالرحمان خان تاسو څه وائینی۔

جناب عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! تقریباً دوه کاله اوشو خمونږه

هم هائی سیکنڈری سکول، دوه درے خله خو مے هاشم خان ته پخپله هم اووئیل خو اوسه پورے د هغے د پاره څه خاص توجه نه ده ورکړے شوے. ما خو هاشم خان ته غلے غوندے آواز اوکړو ما وے چه ډیر بحث شروع دے زه به غږ نه کومه خو تاسو مهربانی اوکړه نو پکار ده چه خموږ د متهرے د هائی سیکنڈری سکول د پاره هم بندوبست اوکړی.

جناب محمد اورنگ زیب خان: جناب! Question تو میں داخل کرنے والا ہوں۔ یہاں ڈگری کالج کے حوالے سے بات ہو رہی ہے تو کوہاٹ ڈویژن میں واحد ڈگری کالج جو کہ کوہاٹ میں ہے اور اس ڈویژن میں کرک کا ضلع اور ہنگو کا ضلع بھی شامل ہے۔ اس میں بائیس سبجیکٹس پڑھائے جاتے ہیں اور صرف سات لیکچررز ہیں۔ لائبریرین نو ماہ سےجو کہ پشاور کی رہنے والی ہے چھٹی پر ہے اورجونہی اس کی چھٹی ختم ہوتی ہے تو ایک میڈیکل سرٹیفکیٹ بھیج دیتی ہے کہ میں بیمار ہوں اور نہیں آ سکتی۔ کالج میں پینے کا پانی تک نہیں ہے جناب اورمیں نے پہلے بھی عرض کیا تھا ہاشم خان صاحب سے زبانی طور سے کہا تھا انہوں نے دوبارہ یقین دہانی کروائی تھی بڑے Energeticوزیر ہیں اور بہت اچھے آدمی ہیں۔ تو میری ریکوسٹ یہ ہے کہ وہاں پر بائیس کلاسسز ہیں اور دوسری بات یہ ہے کہ اب میل ڈگری کالج سے وہاں جاتے ہیں پڑھانے کے لئےتو جناب وہ جوان بچیاں ہیں جوان لڑکیاں ہیں اور اگر ان کے لئے مہربانی فرما کر ٹیچرز کا بندوبست کیا جائے تو مہربانی ہو گی۔

جناب شیر زمان شیر: جناب سپیکر صاحب! خما پوائنټ آف آرډر دے.

جناب محمد ظاہر شاہ خان: جناب سپیکر صاحب! ډیره شکریه. زه ستاسو په وساطت سره د منسټر صاحب نه لږ معلومات کوم چه هائیر سکینډری سکول بشام یو کال شوے دے د هغے پوسټونه منظور شوی دی او سکول له لا تر

اوسه پورے نه دے راغلے۔ موښږه نه هغه کالج ډیر لرے دے نو مهربانی دے اوکړی اودا پوسټونه Sanction دی او دا پوسټونه دے ورکړی او دا سکول دے چالو کړی او د دے نه علاوه جی هائی سکول دانش د ے هغه سکول چالو شوے دے خو د لسم سټاف پکښې نشته نو د دے وجے نه د لسم چه دے هغوی له داخلے نه ورکوی چه د دے د پاره هم ضروری بندوبست اوکړی۔ د لسم سکول چالو شوے دے او وارو ته پکښې داخلے نه ملاویږی نهم کښې داخلے ملاؤ شوی دیخوا د لسم داخلے نه ورکوی او هغه واړه بیا دغه ته ځی۔ د دے د پاره دے ضروری بندوبست اوشی نو ډیره مهربانی به وی۔

جناب شیر زمان شیر: جناب سپیکرصاحب! خمونږه گورنمنټ ډگری کالج لاهور د سټاف د کمی په وجه هغه بله ورځے هلکانو روډ بلاک کړے وو او په هغے کښې بیا پولیس لاټهی چارج هم کړے دے او څه هلکان زخمیان شوی هم دی۔ خمونږه ستاسو په وساطت منسټر صاحب په خدمت کښې دا حواست دے چه لاهور ډگری کالج له دِ سټاف ورکړی بل خمونږه په تحصیل لاهور کښې یو گرلز هائیر سکینډری سکول دے په 1993-94 کښې دغه خمونږه ممبر صاحب ناست دے هغه ټهیکه دوئ سره وه او هغه تر اوسه پورےجی، د 1993-94 نه شروع ده او هغه تر اوسه پورے نه ده Complete شوے۔ نو خمونږه په تحصیل لاهورکښې نه بل کالج شته د جینکو د پاره۔۔(قطع کلامی)

جناب محمد ایوب خان آفریدی: سر! وه کہتے ہیں جی کہ Contractor can not contest the election تو میرے بھائی کا ٹھیکہ ہے اس ممبر کے ساتھ تو مجھے سمجھ نہیں آ رہی ہے تھوڑا یہ بھی بتا دیں۔

جناب شیر زمان شیر: معافی غواړم د هغه په دغه باندے کیدے شی بل چا دغه

کولو، په دے تفصیل کښې نه ځم ایوب آفریدی صاحب خو هوښیار سړے دے دغه معلومات به دهٔ له وی خو ما له دومره نشته۔ که د بل چا په ذریعه باندے اوشی، کیدے شی چهٔ ما ته معلومات غلط وی جناب۔ خو په دغه 94-1993 کښې دغه بلډنګ شروع شوے دے او تر اوسه پورے هغه بلډنګ Complete شوے نه دے نو دا به مهربانی وی چه دغه Complete شی او د لاهور ډګری کالج د پاره سټاف ورکړے شی۔

<u>جناب سرنګ زیب خان</u>: خمونږ کوهستان پټن کښې تقریباً 1978 کښې هائر سیکنډری سکول جوړ شوے وو د کوهستان ډیویلپمنټ بورډ فنډ باندے، هغه عمارت هم ختم شو خو تر اوسه پورے سټاف هم نه دے راغلے۔ پنځلس کاله اوشو هغه عمارت هم بوسیده کیدو باندے دے۔ نو دا مهربانی دِ اوکړی هغه سرکاری عمارت پنځلس کالو نه بند دے، نو د دے دِ طرف ته غور اوشی۔

<u>حاجی محمد یوسف خان</u>: جناب سپیکر! خبره خو ډیره د افسوس ده۔ خمونږ ډیر اهم سوالونه وو هغه پاتے شو خو ستاسو په وساطت زه دا عرض کومه چه خما ډیر ورونړه اکثر دا وائی چه خمونږه بلډنګونه جوړ دی او سټاف نشته فلانے دے او ډینګرے دے۔ د بدقسمتی نه په ډسټرکټ بټګرام کښې یو کالج منظور شوے وو خدائے دے اوبخښی د فضل حق صاحب په وخت کښې۔ د مارشل لاء په حکومت کښې د بټ ګرام تقریباً سارهے تین لاکھ آبادی ده او مانسهره هیډ کوارټر خمونږه نه پچهتر کلومیټر لرے دے۔ که مونږ د ډسټرکټ بټګرام آخری حد حساب کړو نو هغه د دوه، دوه نیم سوو کلومیټرو حساب جوړیږی۔ علاقه هم پسمانده ده، خلق هم غریب دے لیکن هغه کالج د بیوروکریټس د سرے فیتے ښکار شوے دے نو تر اوسه پورے نه د هغے

بلډنګ مکمل شو او نه ورته سټاف ورکړے شو۔ نو زه ستاسو په وساطت د منسټر په خدمت کښې دا عرض کوم چه د بټ ګرام په خلقو دے رحم اوکړی او هغه کالج له دے داسے لاره جوړه کړی چه هغه کالج Complete شی او هغے ته دے سټاف هم Sanction شی۔

جناب سید علی شاہ: جناب سپیکر! میں آپ کی وساطت سے جناب وزیر تعلیم کی خدمت میں یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ میرٹ تو اچھی بات ہے اور ہر جگہ میرٹ پر کام ہو رہا ہے لیکن کچھ میرٹس ایسے ہیں جن کی وجہ سے طالب علموں کو نقصان پہنچ رہا ہے۔ جناب سپیکر اگر ایک لڑکی یا ایک لڑکے نے سیکنڈ ایئر کا امتحان پاس کیا ہے اور وہ ریگولر سٹوڈنٹ ہے اس کالج کا لیکن اگر اس کے دو یا تین، چار نمبر کم ہیں تو اس کو کالج کے تھرڈ ایئر میں داخلہ نہیں دیا جاتا لیکن باہر سے جو لڑکے یا لڑکیاں آتی ہیں ان کو داخلہ مل جاتا ہے۔ کچھ تو Advantage ہونا چاہیے کیونکہ وہ لڑکی یا لڑکا اس کالج کے ریگولر سٹوڈنٹ رہے ہیں تو ان کے لئے تھوڑی سی گنجائش رکھی جائے۔ دوسری بات ہے جناب سپیکر، کہ میرے حلقے میں پہلے تو ہم سنتے تھے کہ گاؤں میں چھپر ہوتے تھے اور وہاں سکول لگتے تھے یا درخت کے نیچے سکول لگتے تھے لیکن اللہ کے فضل و کرم سے اب حالت یہ ہے کہ وہاں تو پکے سکول بن گئے ہیں اور پشاور شہر کے اندر چھپر کے نیچے لوگ بیٹھے ہوئے ہیں۔ میں وزیر تعلیم صاحب سے بھی عرض کیا ہے کہ ایک دفعہ آپ آئیں اور دیکھیں شہر کے اندر، دیکھیں پشاور کیپیٹل دارالخلافہ اور خدا کی قسم کھا کہ میں آپ سے کہتا ہوں کہ وہاں بیٹھنے کیلئے لڑکیوں اور لڑکوں کے لئے Matting نہیں ہیں بلکہ ٹانگوں کے سہارے بچیاں بیٹھتی ہیں اور بعض اپنے ساتھ پلاسٹک کے ٹاٹ لے کر آتی ہیں لیکن دوسرے دن چوکیدار نے وہ بھی بیچ دیئے ہوتے ہیں اور پھر ان کے پاس بیٹھنے کے لئے کچھ نہیں ہوتا۔ میں نے ایک سکول کے لئے ریکویسٹ کی کہ بڑا Posh علاقہ ہے گلبہار کا، میٹرک کی

بچیاں وہاں زمین پر بیٹھتی ہیں اور کچا فرش ہے، بڑی مشکل سے ڈائریکٹر صاحب نے پینتیس ہزار روپے اس کے لئے منظور کئے۔ جب وہاں گئے تو مجھے کہتے ہیں جی کہ پینتیس ہزار روپے تو ہیں بیس ہزار روپے ہم دیں گے پندرہ ہزار روپے آپ دیں گے۔ میں نے کہا کہ میرے پاس تو ابھی کوئی ایم پی اے فنڈ نہیں ہے۔ تو کہنے لگے اپنی ذات سے دیں۔ میں نے کہا چلیں ایک سکول تو میں کردوں گا لیکن باقی سکولوں کا کیا بنے گا؟ تو خدارا جی ذرا پشاور شہر کے سکولوں کی حالت دیکھیں اور اس پر وزیر صاحب کچھ رحم فرمائیں۔ شکریہ جی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: سپیکر صاحب! ان کے شہر میں تو کہتے ہیں کہ چھتیں نہیں ہیں سکول کی یا پتہ نہیں اورکیا چیزیں نہیں ہیں۔ ہمارے ضلع میں تین سیکنڈری ہائی سکولز تیار ہیں۔ فرسٹ کلاس کنسٹرکشن ہوئی ہے ان کی۔ آپ Compare کر سکتے ہیں کسی اورضلع کے ساتھ۔ ایک عیسیٰ خیل میں ہے۔ ایک تاجوڑی میں، ایک پیزو میں ہے اور تینوں تیار ہیں۔ کیا وزیر صاحب یہ بتا سکیں گے کہ ان پر کب کام شروع کریں گے اس سال، اگلے سال یا کوئی پانچ سال کی پلاننگ ہے یا دس سال کی پلاننگ ہے، کب کریں گے جی؟ مہربانی جی۔

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! سید علی شاہ خان چہ کومہ خبرہ اوکرہ، حقیقت دا دے چہ زہ ہم د برابر بنوں ستی د حلقے نہ تعلق لرمہ، او پہ کوم بنارکښې چہ د مخکښې کوم سکولونہ وو، پہ ھغے کښې اوس ھغہ تعداد جی نہ راخی، او د گورنمنټ یوہ پالیسی دہ چہ سکول تہ بہ خوامخواہ زمکہ ځوک مفتہ ورکوی۔ نو ځمونږ پہ بنوں ستی کښې تقریباً تین لاکھ روپے فی مرلہ دہ، نو ھلتہ ځوک ہم جی ھغہ زمکہ مفتہ نہ ورکوی۔ کہ دا سے څہ پالیسی جوړہ شی چہ دا کومے بنارئیے دی پہ ھغے

کښې ګورنمنټ په قیمت بانده زمکه واخلي اوهلته د سکولونو تکلیف دے،
اوس د بازارونو نه خلق خی او په کلو کښې سبق وائي- څما هم څنګه چه د
دوئ خبره ده زه د دے سره اتفاق لرم او د سټی د پاره دے څه طریقه کار
جوړشي- په هغے کښې په قیمت بانده دے دوئ زمکه اخلي او هغے کښې به
سکولونه جوړه وی-

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔

حاجی محمد عدیل: پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: دوئ مخکښې پاڅیدلی دی-

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! آپکی اجازت سے، میرے ساتھی دوست سید علی شاہ صاحب نے جو بات کی ہے وہ بڑی اہم ہے۔ اکثر یہ ہو رہا ہے کہ ہمارے پشاورمیں دو کالجز ہیں۔ پہلے تو کالج بہت کم ہیں، ایک ایف سی ہے یعنی فرنٹیئر کالج فار وومن اور دوسرا سٹی کالج ہے۔ تو اس میں جن بچیوں نے سیکنڈ ایئر کا امتحان انہی کالجز میں دیا ہے بچوں نے بھی اور بچیوں نے بھی ان کو تھرڈ ایئر میں داخلہ نہیں مل رہا ہے کیونکہ ان کے نمبر کم ہیں اور باہر سے، یہ اچھی بات ہے کہ باہر سے بھی جو بچے بچیاں آتی ہیں وہ بھی ہمارے علاقے ہی کی ہیں پشاور کے ہیں لیکن جو بچے اور بچیاں فرسٹ ایئر اورسیکنڈ ایئر اپنے کالجوں میں پڑھتی ہیں تو چاہیے کہ پہلے، مجھے یاد ہے کہ یہ سسٹم ہوا کرتا تھا کہ اپنے کالج کے بچے اور بچیوں کو کچھ گریس نمبر دس یا پندرہ ملا کرتے تھے ایک تو یہ بات ہے، دوسری یہ ہے کہ میں اب اپنی مثال دیتا ہوں کہ میرا حلقہ جو پی ایف ۔۴ ہے اس کا جو شہری علاقہ ہے، پشاور کارپوریشن کا، اس میں لڑکیوں کا ایک ہائی سکول بھی نہیں ہے پورے حلقے میں، یہ پشاور شہر ہے جو ہم کہتے ہیں کہ صوبے کا دل ہے اور جب ہم پشاور کی بات کرتے ہیں تو ہمارے بعض دوست یہ کہتے ہیں کہ آپ ہر وقت پشاور کی کیوں بات کرتے ہیں۔ پورے

شہر کی میونسپل حدود میں، پی ایف۔ ۴ میں لڑکیوں کا ایک ہائی سکول بھی نہیں ہے۔ وجہ کیا ہے وجہ یہ ہے کہ مڈل سکول میں اتنی Capacity نہیں ہے Space نہیں ہے، کہ وہاں ان کو Up grade کیا جائے اور نئے سکولوں کے لئے زمین نہیں ہے مطلب یہ ہے کہ نہ سکول ہونگے اور نہ بچے اور بچیاں پڑھیں گی۔ نہ نومن تیل ہو گا اور نہ رادھا ناچے گی۔ شکریہ۔

جناب احمد حسن خان: پوائنٹ آف آرڈر مسٹر سپیکر سر!۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: سر! پوائنٹ آف آرڈر۔ سر میں پہلے اٹھا ہوں۔

جناب احمد حسن خان: پوائنٹ آف آرڈر سر!۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: میں نے پوائنٹ آف آرڈر پہلے کہا ہے۔ سر میں پہلے اُٹھا ہوں۔

جناب احمد حسن خان: سر پوائنٹ آف آرڈر دا دے جی۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: میں نے پوائنٹ آف آرڈر کہا ہے۔ میں نے پہلے کہا ہے۔

جناب عبدالسبحان خان، نمبر خمادے۔ د دوی دوارو (شور)

جناب محمد ایوب خان آفریدی: پوائنٹ آف آرڈر ہے سر! جتنی بھی باتیں ہم نے کی ہیں وزیر تعلیم صاحب ہمیں جواب دیں گے اس کے علاوہ اور کچھ بھی نہیں ہو گا۔ یہ اسمبلی کا وقت اس کے لئے ہے سر۔ جب تک ایسی کوئی پالیسی نہ ہو یہ نہیں ہو سکتا۔ بچیوں کے داخلے کا مسئلہ ہے۔ سر میرے حلقے کا، ایک پسماندہ حلقے کا ایک بچہ جس نے 880 نمبر لئے ہیں ایف ایس سی میں، جب وہ انٹری ٹیسٹ کے لئے گیا تو فیل ہو گیا تو جن بچوں نے ایف ایس سی کے بعد کسی انجینئرنگ کے لئے انٹری ٹیسٹ پاس کرنا ہے

تو کیا یہ ظلم نہیں ہے جن سکولوں یا کالجوں میں بچے پڑھ رہے ہیں، بغیر نمبروں کے، ان کو تھرڈ ایئر ہو یا فورتھ ایئر میں وہ Facility وہاں Provide کی جائے کیونکہ جب آگے جا کر ان غریبوں نے خراب ہونا ہے، انٹری ٹیسٹ دینا ہے اور 880 نمبر والا بچہ سر اگر وہ رہ جاتا ہے تو پھر یہ ظلم ہے۔ اگر دو تین نمبر کسی بچی کے کم ہوں اور وہ ریگولر سٹوڈنٹ ہو اسی کالج کی، تو اس کو آگے Promote کیا جائے جی۔

جناب عبدالسبحان خان، شکریه سپیکر صاحب! هغه جي، شعر به اووایمه خیر دے، هغه جي هغه حاجي عدیل صاحب خو د ښاریو او اکرم دراني---

(قطع کلامی)

جناب سپیکر، بشیر خان لا پاتے دے، هغه هم پاڅیدلے وو۔ هغه به هم۔

جناب عبدالسبحان خان، آو جي۔ دوئ خو دښاریو ترجمه اوکړه خو وائي چه "شہر دی چڑی تے دیہات دی کڑی" والا معامله ده کنه، نو مونږ هم د رورل ایریا سره تعلق ساتو نو ما وے چه زه خو دا د هاشم خان به خوش قسمتي اوګنړم، قابل احترام ایجوکیشن منسټر چه د لارډ میکالے د نظام تعلیم د لاندے چه کوم سسټم دے جي، خما ګزارش دا دے جي، چه دا یو داسے سسټم دے چه دا به ده ته دغه شان پرابلم وي، او که دے د پاره چرته یوه ورځ سالمه اوخي جي او په هغے باندے Debate اوشي ځکه چه د Question کوم ټائم وي هغه خو جي په Supplementary Question یا په پوائنټ آف آرډر کښ لاړشي۔ خما دا ګزارش دے چه د دے د پاره به ښه طریقه کار، یو سسټم د پاره چه تر څو پورے جي، تر څو پورے چه دا نظام تعلیم وي، پنځوس کالو نه چه یو پکښ ایډورډین وي، یو پکښ ایچي سنین وي بل پکښ د برن هال سټوډنټان وي او بل لکه خمونږ ټاټارین وي۔ چه په ټاټ باندے سبق وائي۔ هغوی د ټاټونو والا

نمائندګی کوی۔ چه تر څو پورے دا سسټم نه دے ټهیک شوے جی نو هم دغه شان پرابلم به وی۔ او څما هم دے ګزارش سره به کیدے شی دا ټائم به هم بچ کیږی۔

د خربو خربو غټانو په وطن کښ۔

جناب سپیکر: هاں جی هیر شو۔

جناب عبدالسبحان خان: نه۔ نه جی هیر چرته دے۔ د خربو، که تاسو لږغوږ کیښودو جی۔

د خربو خربو غټانو په وطن کښ
څه دا خیر دے یو، نور به نیمګرے کړمه
خدائے له څی غریبان پردی کفن کښ۔

جناب سپیکر: جی احمد حسن خان۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! څما پوائنټ آف آرډر دا وو چه د دے ټولو معاملو څو دے بےچاره وزیر تعلیم سره څه جواب نشته، څکه چه په دے کښ وسائل nvolve ادی، د وسائلو ذمه وار وزیر خزانه دے چه هغه وزیراعلیٰ هم دے چه د بی بی ګاونډی هم دے، خدائے خبر چه بی بی ورته هغه وخت په غوږ کښ څه وئیلی دی، د پښتونخوا د قرارداد سره چه هغه په دے دروازه وتلے دے هغه او پیر صاحب بیا واپس نه دی راغلی۔ زهٔ بی بی ته درخواست کومه ستاسو په وساطت سره چه هغه دلته راشی،او بل خبر دا هم دے چه پرون چرته په لاتهی چارج کښ وهلے شوی دی نو دے ټول هاؤس ---(قطع کلامی)۔

جناب محمد ایوب خان آفریدی: پوائنٹ آف آرڈر۔ سر! جو ممبرز ہاؤس میں موجود نہ

ہوں تو' دوسرا صابر شاہ صاحب جو ہیں وہ وہاں فیڈرل گورنمنٹ کی بھی نمائندگی کر رہے ہیں۔ ان کو یہ نہیں کہنا چاہیے کہ وہ دوبارہ نہیں آئے وہ ضرور آئیں گے اور انشاء اللہ ان کو جواب بھی دیں گے۔

جناب احمد حسن خان: خدا کرے کہ وہ دوبارہ آ جائیں ہماری یہ تمنا ہے کہ ان کو دیکھ لیں" خو دویمه خبره دا ده واتی چه پرون اسلام آباد کښې په لاټهی چارج کښې وهلے شوے دے۔ که دا ریښتیا وی نو مونږ د اسلام آباد د پولیس خلاف د استحقاق تحریک وړاندے کوؤ۔ جناب سپیکر او تاسو نے بیا مه منع کوے چه مونږ د هغوی نه سم تپوس اوکړو۔ او چه چرته دے نو مونږ ته دے اوواتی سر۔

<u>وزیر قانون</u>: جناب سپیکر صاحب! څنګه چه خونړ رورد آرټیکل 17 حواله ورکړه، دا چه کوم ایسوسی ایشنز دی د هغوی یو پارټئی سره هم فارم سازی نه ده شوے او نه هغوی د پارټئی ممبران دی۔ هغوی یو خپل ایسوسی ایشن جوړ کړے دے او هغے له چه هر یو نوم ورکوی او هر چا سره هغوی خپل تعلق ساتی نو هغے باندے داسے څه پابندی آئین کښې نشته۔ آئین کښې صرف داپابندی ده چه سرکاری ملازمین چه دی هغوی یو پارټئی سره هم نشی شاملیدے۔ دا څومره یونینز چه دی، دا ایسوسی ایشن چه دی دا آئین سره، د دے پارټو سره تعلق شته خو دوئ د پارټو فارم سازی نه ده کړے۔ خپل رورته دا خبره کوم چه دے کښې داسے پابندی نشته چه هغوی ځان له ایسوسی ایشن نه شی جوړولے۔

<u>جناب احمد حسن خان</u> : جناب سپیکر! ریښتیا خبره دا ده چه جناب منسټرصاحب د فرید طوفان د دومره ښه تفصیل نه پس زه دا ضرورت هم اوس نه ګنړم چه جناب هیلته منسټر دے په دے باندے مزید روښنی واچوی څکه چهخما په خپل خیال هغه خبره چه کوم خما مقصد وو نو هغه اوشوه او

دهغوی په خدمت کښې صرف دا عرض دے چه د ډاکټرانو دا مطالبه چه ده دا دټیچرز سنز د پاره نه ده، دا دَ ډاکټرز سنز د پاره ده۔ دوئ په خپل تقریر کښې بار بار دا اووے نو هسے نه چه پریس والا ترے نه دا دغه واخلی ډاکټرز سنز د پاره یا ډاکټرز چلډرن د پاره۔

جناب سپیکر: د ټیچنګ، دهغوی اشاره هغے ته وه۔

جناب احمد حسن خان: جی۔

وزیر بلدیات: احمد حسن خان ټهیک نکته اوچته کړه۔ دا د ډاکټرز سنز۔

ایک معزز رکن: د ټیچرز،

وزیر بلدیات: نه جی ډاکټرز سنز۔

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! ډاکټرز چلډرنز دے۔

جناب احمد حسن خان: آو چلډرنز دے جی۔

حاجی محمد عدیل: چلډرن۔

جناب احمد حسن خان: جی جی سر۔ جناب سپیکر! ورسره، ورسره خما هم د دے دغه د راوستو On the floor of the House دا مقصد وو چه-----

جناب سپیکر: چلډرنز کښې دواړه راځی۔ هلک او جینئی دواړه راځی او سنز کښې، دا انګریزی ټکی دی نو---------

جناب احمد حسن خان: چه هغوی په دے، هغوی ته دا پته ده۔ (قطع کلامی)

وزیر بلدیات: په دے باندے تاسو ښه پوهیږئ-- (قہقہہ)

جناب احمد حسن خان: خما بنیادی مقصد هم دا وو چه د دے ایوان نه هغوی ته دا Message لاړ شی چه د هغوی په جد وجهد کښې مونږ د هغوی سره شریک یو

او د هغوی د مشکلاتو خمونږ سره احساس دے۔ او خما دا یقین دے خو دے منسټر صاحب چه کله تقریر شروع کړو نو دَ اوله ئے 98% او ونیلے بیا ئے 95% اوونیلے نو زه یریدم ما وے چه هسے نه چه 19% ته راونة رسی خو خما دا یقین دے انشاء اللہ تعالیٰ چه هغه به خدائے پاک، هغه به دا کوشش اوکړی چه خپل دے Commitment کښې به پوره شی۔ چه کم از کم دا 95% چه کوم هغوئ اووے یا 98%، خمونږ به ورسره تعاون وی خمونږ به ورسره امداد وی چه هغوئ په دے کښې پوره شی او په دے برادری کښې دا بے چینی ورکه شی۔ نو ډیره شکریه ادا کومه۔

**Mr. Speaker:** Honourable Iftikhar Khan Matta, MPA to please move his Call Attention Notice No.240.

علاقہ مٹہ مغل خیل پر مسلح قبائل کا حملہ

جناب افتخار خان مٹہ: شکریہ سپیکر سر۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔ دا توجه دلاؤ نوټس نمبر 240 دے، محترم سپیکر صاحب! (تالیاں)

"میں آپ کی توجہ ایک اہم مسئلے کی جانب مبذول کرانا چاہتا ہوں اور وہ یہ ہے کہ میرے حلقہ پی۔ایف۔ 14 میں مٹہ مغل خیل کی اراضی علاقہ غیر کے قبائلی علاقہ کی قوم باران خیل او عیسیٰ خیل نے قبضہ کی ہوئی ہے اور مورخہ 15-11-1997 کو قبائلی علاقہ باران خیل قوم والوں نے مسلح حملہ کرکے ہمارے عمر سید نامی ایک شخص کو زخمی کیا اور ٹریکٹر کو بھی نقصان پہنچایا۔ اس اہم مسئلے پر پوری توجہ دی جائے اور مجھے بحث کرنے کی اجازت دی جائے"۔

سپیکر صاحب ! دا یو ډیره لویه او غټه مسئله ده، د مټه مغل خیل او بیا په مټه مغل خیل کښې د مټه رستم خیل، مټه پلنګزئی او مټه باروخیل او د

کتوزو۔ دا تقریبا پندره هزار جریب زمکه ده، چه دے باندے تقریبا د څوکالو راسے، مسئله خو ډیره زیاته تقریباً د دیرشو څلویښتو کالو ده خو په دے باندے قبضه لکه اوس اچولے شوے ده۔ په دے باندے جی دوؤ قومونو قبضه اچولے ده۔ کله چه د ګر وخت راشی او یا د ریبلو وخت راشی نو په دے باندے جی خمونږه هغه مسئله خرابه شی۔ مسئله داسے خرابه شی چه د ډیر وخت راسے په دے ډیر جنګونه اوشو۔ په دے کښ تقریباً په سوونو خلق مړهٔ شو او په سوونو پکښ زخمیان شو۔ هغه د جنګونو حوالے خو زه اوس پرے پاتم نه اخلم وخت به واخلی خو آخری په سن1995ء کښ چه کوم جنګ پرے شوے وو نو په هغے کښ د میزائیلو د راکټ لانچرو او د توپو او د تهری انچ مارټرو حمله شوے وه۔ په هغے کښ ډیرے زنانه خمونږ، د هغوی نه پخے، لاسونه کټ شو، ماشومانو نه هم دغه شان لاسونه کټ شو، ډیر خلق پکښ زخمیان شو۔ دا خمونږ د نیکونو نه دا خبره راروانه ده او مونږ پورے راورسیده او د دے نه پس خمونږ نه د لاندے پښتونو پورے رسی۔ که د دے څه صحیح حل او نه شو نو کیدے شی نور حالات خراب شی۔ مسئله داده چه د هفتے په ورځ دغه شان هغه قوم را پاسیدلو او خمونږه په خلقو باندے نے ډزے اوکړے او په هغے کښ دغه یو سړے اولګیدو او ټریکټر هم اولګیدو۔ په هغے کښ د دے نه دوه میاشتے مخکښ ما کمشنر صاحب سره او پی اے مهمند سره بار بار دا خبره کړے وه چه دا د ګر وخت راروان دے۔ دے کښ به بیا دا حالات خرابیږی خو هغوی دے مسئلے له څه توجه ورنکړه۔ د دغے نه پس جی جنګ پرے اوشو خو بنه وه، هغوی هم پکښ، او مونږه پکښ منډے ترړے اووهلے او هغه مشرانو خپل کشران نےچه وو هغوی موراکوز کړل

او هغوی پکښې راغلل او هغه صلح اوشوه تر پچیس تاریخه پورې۔ د هفتې نه پس د اتوار په ورځ هغوی پخپلو کښې اُونښتل، عیسیٰ خیل او باران خیل قوم راپاسیدو او په خپلو کښې په پردنی زمکه باندې اُونښتل جی۔ په هغې کښې د اتوارنه واخله دے چوبیس گهنټو کښې دننه دننه هغوی په راکټ لانچرو او په میزائیلو باندې یو بل اوویشتل۔ زه خو دا خبره کوم چه ریونیو ریکارډ دِ اوکتلې شی په دے د "متې" ملکیت دے، د کتوزو ملکیت دے۔ د خدائے په قانون کښې د دغې خلقو جائیداد دے۔ د پاکستان په قانون کښې د دغې خلقو جائیداد دے۔ لوکل ریټ او مالیه جی مونږ ورکوو، تر اوسه پورې او قبضه هغوی سره ده۔ د دے نه مخکښې 1995 کښې په دے باندې سول سوټ یو فیصله هم شوے ده ۔ هغه دا ده ما سره موجود ده او هغه خمونږ په حق کښې، لکه ریونیو ریکارډ کښې دا مالکان دی، خمونږ په حق کښې شوے ده۔ چونکه تر اوسه پورې دا مسئله هم دغه شان پاتې ده او دغه شان که پاتې شی نو دا حالات به نورهم خرابیږی، اوس گَر اوشو۔ گَر باندې جنگ اوشو۔ رپبلو باندے به هم جنگ کیږی۔ د دے نه مخکښې جی فرید طوفان صاحب سره ما خبره کړے وه چه مونږه چیف منسټر صاحب سره ملاویږو۔ ما وفد راوستے وو خو د هغې باوجود جی هغه چیف منسټر صاحب په هغه ورځ باندې راغلے نه وو۔ دا مسئله هغه شان پاتې شوه او په سبا باندې پرے جنگ اوشو۔ نو دا مسئله داسې ده چه دا د حل کولو ده۔ په دے کښې که فرض کړه داسې حالات روزانه پیدا کیږی، بل جی غټه خبره دا ده چه مونږ سره جی کلاشنکوف نشته، توپک نشته هغوی سره په غیره کښې جی توپې دی، مارټرے دی او هر یو شے دے او خمونږ تقریباً په پچاس هزار آبادنی باندې هغوی جی که یو لوټه هم

راوولی نو ډیر خلق پکښې مړه او زخمیان شی۔ که دا سلسله جاری وی او د دے څه خاص بندوبست او نشی نوکیدے شی چه حالات نور هم خراب شی۔ د دے یو حل دا دے جی که Demarcation line په صحیح طریقه باندے اوشو هم به صحیح پته اولږی۔

**Mr.Speaker:** Honourable Minister please.

ارباب سیف الرحمان خان: جناب سپیکر! که مونږ ته مو لږ اجازت راکړو نو بیا به منسټر صاحب په دے خبره اوکړی۔ اجازت دے؟

جناب سپیکر: اوکړئی جی خبره۔

ارباب سیف الرحمان خان: جناب سپیکر! دا افتخارخان چه کومه خبره مخکښې کړے ده۔ دا ډیره ضروری ده ------(قطع کلامی)

جناب سپیکر: افتخارخان کوم یا دوئ، مهمند یادوئ که افتخارخان ملکی --

(قہقہہ)

ارباب سیف الرحمان خان: مته، مته۔

وزیر بلدیات: میاں افتخارحسین هم شته کنه۔

جناب سپیکر: جهګړه داسے جوړه شوه نو خکه ما پکښې دا Differentiation کولو---------(قہقہہ)------

ارباب سیف الرحمان خان: جناب سپیکر! دا جهګړه چه کوم ده دا ډیره زړه ده۔ د Settled area او د ټرائیبل ایریاء Particularly دا مته مغل خیل چه کوم دے دے ته دامان وائی۔ د ډیرے زمانے راسے په دے باندے جهګړه ده۔ د حکومت کمزوری دا ده چه هیڅ کله دوئ نه Demarcation اوکړو نه څه Effective کار نے اوکړو۔ صرف مته مغل خیل نه دی دا څومره چه ټرائیبل

ایریاء سره پُله ده، په دے ټوله بانده جهګړه ده- دا خو چارسده ډسټرکټ کښې راځي بیا د پشاور ډسټرکټ ورسک سره دا جهګړه ده بیا مخکښې په" سنګو کلی" سره ده- حیات آباد Proper چه کوم دے دا متنازعه زمکه ده- داسے د شیخانو زمکه ده د ماشوخیلو ده تر متنی پورے سپینے تهانړے پورے دا ټوموره لیکه چه ده دا Disputed ده- بار بار دے د پاره مونږه دا مطالبه کړے ده - حکومت اکثر دا خبره کوی چه مونږ به جرګه مقرر کړو- د زمکے فیصله چرے په جرګه بانده نه کیږی- د زمکے فیصله به په کاغذات مال بانده کیږی، ریونیو پیپرز بانده به کیږی- مونږ دے حکومت ته بار بار وئیلے دی چه تاسو داسے کار اوکړئ چه کومه د Settled area او د ټرائیبل ایریاء پُله ده، د ریونیو ریکارډ په ذریعه بانده په هغے بانده تاسو Demarcation اوکړئ که ایجنسی ده نو هغوی سره هم پټواریان شته، تحصیلداران شته، هغوی سره خپل کاغذات خپل حدود هغوی ته معلوم دی- دا د حکومت ډیره زیاته کمزوری ده چه هر کال په دے بانده جنګونه کیږی- خلق په مری او دوئ کله وائی چه مونږ به جرګه مقرر کړو- کله یو بهانه کله بله بهانه- دے د پاره پکار دا ده چه په دا ټوله پُله بانده یو Demarcation اوشی په Boundary line بانده خم باقاعده Pillors مقرر شی او د ایف سی پوسټونه په دے بانده مقرر شی چه د ټرائیبل ایریاء او د Settled area په یو ځائے بانده فیصله اوشی- ځکه فی الحال هم داسے کار دے چه که مونږ پولیس ته وایو چه تاسو په دے علاقه بانده ګشت اوکړئ نو هغوی ته خپل حدود نه دی معلومه چه تر کومه پورے ډسټرکټ دے او تر کوم ځائے پورے ایجنسی ده- نو د دے Demarcation ډیر صفا پکار دے او په دے بانده چه کومه ټرائیبل ایریاء وی

په هغے کښې د ایف سی پوستونه او چه ورسره کوم Adjacent area وی په هغے کښې د پولیس پوسټ پکار دے۔ په هغے باندے گشتونه پکار دی ځکه چه دا به هم داسے مرگونه به پرے کیږی او دا تنازعه به هم داسے زیاتیږی او کمیږی به نه۔ ځما تاسو ته دا یو خو خبرے وے۔

جناب غنی الرحمان خان : جناب سپیکرصاحب! ارباب صاحب، سپینے تهانړے پورے لاړو خو په غاخی وا نه وریدو۔ دا قسم ته مسئلے خمونږ په هنگو ضلع کښې هم دی۔ درسمند قوم او وزیر قوم کافی وخت نه په یوے علاقے باندے، د دے باوجود چه انتظامیه هغه علاقے تقسیمے هم کړے او باؤنډری نےهم معلومه ده خو د هغے باوجود علاقه غیر کوم وزیر قوم چه دے هغه درسمند قوم باندے بار بار حملے کوی او چه کوم پولیټیکل انتظامیه ده هغه هم د هغوی مدد کوی او دا خمونږ انتظامیه چه کوم ده او کومه علاقه سرکار والا ده۔ هغه سرکار خلق د پښو نه راکاږی ورته۔ هغوی هم د دوئ مدد نه کوی بلکه د پښو نه نے راکاږی، جیلونو کښې نے اچوی او هغه کوم وزیر قوم چه دے هغه ورځ په ورځ باندے، هغه قوم نے دے حد ته راوستے چه مخکښې ورځوکښې خو هغوی بالکل کلے خالی کړے وو۔ نود دے متعلق هم منسټر صاحب ته ځما ریکویسټ دے۔

جناب شیر زمان شیر :جناب سپیکر! خمونږه دا ضلع صوابی پنجاب سره لږیدلے ده۔ دغه شانتے مسئله خمونږه هم ده۔ خمونږه ضلع اټک سره مسئله ده جی نو د هغے د پاره هم ځو پیرے دغه شانتے مسئله شوے ده نو که د دے د پاره څه طریقه کار وی، تقسیم وی هغه Bridge دے مقررشی مینځ کښې اباسین دے خمونږه زمکے پنجاب پله راغلے دی په هغے باندے هغه وی - نو که د دے هم

منسټر صاحب دغه اوکړی نو مهربانی به وی۔

جناب سپیکر: دا منسټر صاحب بار بار ما ته دا روول 52 حواله کوی "بی" چه داخه دی؟ ایډجرمنټ موشن روان دے په Discussion کښې که څه دی؟

(قطع کلامی)

جناب شیر زمان شیر: نو بس جی دغه نشاندهی کول دی چه مسئلے-----

(قطع کلامی)

جناب عبدالرحمن خان: جناب سپیکرصاحب! دے افتخارخان مته چه کومه خبره اوکړه نودا خبره د ډیر وخته نه راروانه ده او حکومت ته به هم په دے کښې مشکلات وی۔ سبا تاسو ایګریکلچر ټیکس لګوئے، ما سره زمکه نشته دے، زمکه د هغوی په قبضه کښې ده نو ما سره به څه کوئی؟ او دے خلقو سره به څه چل کونی؟ سوال دا دے چه نن موجوده حکومت یو عوامی حکومت دے د عوامو د فائدے خبرے به کوی که تاسو مهربانی اوکړئ او دا اوکړئ چه کمشنر پشاور ډویژن ډیر ښه سړے دے، پولیټیکل ایجنټ مهمند، پولیټیکل ایجنټ خیبراو ډپټی کمشنر پشاور، تاسو دوئ کینوئی نو د دے حل په یو منټ کښې راوتے شی۔ صاحبه کاغذونه شته دے، نمبر خسرے شته دے، هر یو څیز شته دے۔ که څه پکښې راوخی نو په روروئلی باندے به کینو او یو بل سره به خبره اوکړو۔ او دا به د حکومت یو لویه کارنامه وی چه پخپل دور کښې دا د خون خرابئ او متنازعه شےختم کړی نو دا به د حکومت یو لویه کارنامه وی۔

جناب سپیکر: جی حاجی صاحب۔

حاجی بهادر خان: شکریه جی، زه خو د مسنټر صاحب شکریه ادا کومه څکه

چهما هم هغه ورځ یو التواء پیش کړے وه او په هغے باندے هغوی خپل کارکردګی شروع کړے ده خو دا یو درخواست کومه منسټرصاحب ته، په هغے کښې دوئ چه د انکوائری د پاره کوم ایډیشنل سیکرټری مقرر کړے دے نو هغه څی، خو چه څنګه هغه انکوائری راوړی نو دغه شاتنے انتظامیه له پکار ده ولے چه دا په جرګو باندے نه حل کیږی څکه چه ضلعے والا خپله خبره کوی او ایجنسئ والا خپله خبره کوی چه دوئ پکښې څنګه انکوائری اوکړی او هم دغه شاتنے په هغے باندے کرښه راکاږی او په هغه ځائے باندے خپله باؤنډری قائمه کړی نو زه د دوئ په نوټس کښې دا راولم چه هغے د پاره د انتظامیه ته Instructions ورکړی۔

وزیر خوراک، جناب سپیکرصاحب! کله چه ارباب صاحب تقریرکوو او که عبدالرحمن خان تقریرکوؤ نو تاسو ورته سر رقوؤ نو د دے مطلب څه دے؟ چه ستاسو دوئ سره اتفاق دے او که څنګه چل دے؟

میاں مظفرشاه: پوائنټ آف آرډرسر۔

جناب سپیکر: ښه خبرے سره اتفاق کوؤ کنه جی، ګوره په قوم کښې شر او فساد رفع کیږی۔ هغوی خو ډیره ښه فارموله پیش کړه چه دا قبائل همځموني رونړه دی او دا مو هم رونړه دی چه په افهام و تفهیم سره مسئله حل شی۔

جناب احمدحسن خان، جناب سپیکر! چه تاسو کله د شر او د فساد خبرهاوکړئ نو معزز ممبران پوهه شی چه ستاسو اشاره چا ته ده۔

میاں مظفرشاه، پوائنټ آف آرډرسر۔ تاسو د رولز 52 اشاره اوکړه او هم دغه متعلق زه ستاسو نه یو رولنګ غوارم جی۔ افتخارخان یو ډیر Important کال اټینشن پیش کړو، او هغه دومره Important دے چه په دے Confusion

کښې کيدے شي چه د هغه د هغے کال اټينشن مقصد فوت شي نو مطلب دا دے چه ستاسو يو رولنګ راشي چه په دے کال اټينشن باندے پکار دے چه د دے منسټر يو جواب، يو Categorical statement وی هسے نه دا Confusioncreate شي او د دوئ هغه قرارداد ختم شي۔

جناب سپيکر: تاسو ټهيک وايئ جي، جي منسټرصاحب، آنريبل منسټر صاحب۔

وزيرقانون: .Thank you very much Mr.Speaker Sir، افتخارخان مېته، ارباب سيف الرحمن خان، غنی الرحمن خان، حاجي عبدالرحمن صاحب، شيرزمان شيرخان او بهادرخان، د دوئ ټولوخبرے چه کوم دی دا يو مسئله ده او د دے باره کښې حکومت پوره، په دے مسئله باندے ډير زيات کوشش کوی چه دا حل شی ولے چه څمونږ دا باونډری چه ده نو دا قباتلو سره تړلے ده او هغوی سره هميشه، باوجود د دے نه چه څنګه څما رونړو خبره اوکړه چه کتابونو کښې هر څه شته دے، افسر مال سره هرڅه Detail شته او د هغے باوجود هلته کښې جهګړه جوړيږی۔ دا Particular خبره چه ده او د دے تعلق د: افتخارخان مېته د علاقے سره دے دا په 11-15 باندے حالات داسے پيدا شول چه هلته کښې جهګړه اوشوه او هغے کښې يو کس مړ شو چه مونږ ته په هغے باندے ډير افسوس دے او بيا په دے کښې ټريکټر ته هم نقصان اورسيدو۔ زه دوئ سره په فلور آف دی هاؤس دا Commitment کوم چه سبا ګياره بجے به زه کمشنرهم راوغوارم، ډی سی چارسده اوپولټيکل ايجنټ مهمند به هم راغواړو اوکښينو چه هرڅنګه کيدے شي نوانشاء الله د دوئ دا Particular مسئله به حل کړو او باقي څنګه چه عبدالرحمن خان حکم اوکړو نو د دے

حکم تعمیل به هم انشاء الله مونږ. یو ورخ دوه کښ به دا ټول خلق هم راوغواړو او دوی به هم کینوو چه څه حل کیدے شی خو د حکومت کوشش دا دے چه خدائے پاک دِ دا فساد او نکړی. جهګړه اونشتی او دا یو کس چه کوم مړ شوے دے نوهغه خمونږ د پاره ډیر زیات Importantدے، چه یو کس هم پکښ خدائے مه کړه، شهید شی یا مړ شی نو حکومت په دے باندے ډیر زیات خفه کیږی۔ ډیره ډیره مهربانی۔

جناب پیرمحمد خان، پوائنٹ آف آرډرسر۔

جناب سپیکر: جی۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکرصاحب! میاں مظفرشاه صاحب اخبار کوری دا هاؤس دے، دے کښ داخبار نه ګوری۔

میاں مظفرشاه :او، ما وئیل چه تاسو ته اووایمه چه دے کښ فوراً ، ولے چه اصغرخان یو Statement ورکړے دے او ډیر Damaging statement ئے ورکړے دے، ده چرته الیکشن نه دے کټلے، نورڅه مینډیټ ورسره نشته او وائی چه صوبه سرحد د په درے حصو تقسیم شی نو دے ته ماستا سو توجه راکرخوله، صرف دغه مے په اخبارکښ کتل۔

(جناب نجم الدین خان ' ایم پی اے کے سوال نمبر 57 پر بحث۔)

**Mr. Speaker:** Mr Ahmad Hassan Khan, MPA to please start discussion on Question No. 57 moved by Mr. Najmuddin Khan, MPA.

جناب احمدحسن خان: شکریه جناب سپیکر۔ جناب سپیکر! لکه څنګه چه تاسو

اوفرمائیل دا نوټس چه د دے تحت چه کوم سوال زیر بحث دے سوال نمبر 57 چه په کوم کښی جناب نجم الدین خان د مختلفو ضلعو په حواله سره تپوس کړے وو چه آیا دا بحال او برقرار دی او که نه ؟ او د سن 1970 نه کومے کومے جوړے شوے دی؟ او آیا د دے د ختمولو څه تجویز زیر غور دے او که نه دے؟ د دے په جواب کښی د اسمبلئ په فلور باندے چه کوم ریکارډ راغلے دے جناب سپیکر، یو ځل بیا ځما د دے خبرے Main تعلق د جناب وزیر مال فتح محمد خان صاحب سره سره د هغے کمیټئ د چیئرمین سره دے څوک چه به په دے سلسله کښی وزیراعلیٰ صاحب ته سفارشات وړاندے کوی۔ او رښتیا خبره دا ده جناب سپیکر چه دا خبره زه ډیر په عاجزئ سره او په Forcefully----- (قطع کلامی)

جناب سپیکر: د هغه چیئرمین خو خپله پکښی څه نشته داسےکنه، څه ګله خو ئے نشته دے۔

جناب احمدحسن خان: جناب سپیکر د هغے چئیرمین نه ګورے مونږ ویریږو دا یاد ساتئے جناب سپیکر (قہقہہ) جناب سپیکر دے کښی یو خبره دا راروانه ده،یو عامه خبره ستاسو په خدمت کښی او ستاسو په وساطت سره د معزز اراکین اسمبلئ په خدمت کښی دا عرض کول غواړمه چه دا حکومت کوم چه، ځما خو کم ازکم دا خواهش دے او د ډیرو خلقو دا خواهش دے چه یو مستحکم حکومت په دے وخت کښی د ملک د استحکام او د ملک د ښه مستقبل د پاره ضروری دے که هغه صوباتی دے او که مرکزی دے۔ په دے اسمبلو کښی چه کوم صورتحال راغلے دے هغه خان له یوه بحث طلب خبره ده چه څوک پرے هر قسم رائے لری، خو یو نیک شګون ورته په دے لحاظ سره ما او ځما

هومره هَم خیال کسانو په نقطه نظر سره لرلو چه دا صوبانی حکومتونه یا مرکزی حکومت به دا بعضے اهم فیصلو کولو په سلسله کښ قابل شی او صحیح فیصلے به اوکړی۔ مرکز کښ چه څه صورتحال دے،هغه هم ستاسو نه پټ نه دے، په دے صوبه کښ چه څه صورتحال دے هغه نور زیات مایوس کن دے جناب سپیکر او په دے دِ خما ملګری د ټریژری بینچز خفه کیږی نه، او د هغے به زه یو لنډ غوندے مثال ورکړمه۔ د دے حکومت چه کوم بنیادی خبره ده د بدقسمتئی نه د شروع نه تر اوسه پورے راروانه ده او د ډیر کم عقل او فکر خاوند پرے پوهیږی۔ هغه دا دے چه په دے حکومت کښ قوت فیصله، د فیصلےکولو قوت نشته دے او دا یوخبره ده چه وائی Bad decision is better than no decision. دا چه زه څه فیصله نه کومه، که دااوکړم نو دا به اوشی او که داسے اوکړم نو داسے به اوشی او که دا اونه کړم نو څه نتیجه به ئے راوخی او که اوکړم نو څه نتیجه به ئے وی۔ په دے کښ که مونږ انبتی یو نو لس میاشتے او دولس میاشتے خو تیرے شوے دغه شان به دا پینځه کاله تیر شی او په څه نتائجو باندے به مونږه او نه رسو۔ بیا جناب سپیکر! د حکومت کوم اتحادی پارټنر چه دی، د هغوی په اظهارخیال کښ او د هغوی په خبرو کښ او د هغوی په احکاماتو کښ تضاد دے چه دا د ټولو نه زیاته تباه کن خبره ده۔ زه ستاسو په خدمت کښ عرض کومه او که جناب چیف منسټر د دے تردید اوکړو چه دا ما نه دی وئیلے نو زه به اووایمه چه بیا تاسو څنګه مناسب ګنړئ نو هغه شانتے ما له سزا راکولے شئ۔ یو ډیره لویه جرګه د جناب چیف منسټر صاحب سره د بالائی ضلع دیرملاؤ شوے وه چه په هغے کښ جناب بهادرخان ماما، هاشم خان، دا ایم پی ایز او زه پکښ وومه۔ هغے جرګے د

جناب چیف منسټر نه تپوس اوکړو چه بره ضلع تاسوجوړه کړے ده؟ وئیل نے چه نه، صفا ئے اووئیل چه .No ، ورته ئے ووئیل چه د بره ضلعے دجوړولو یا د بحال ساتلو ستاسوڅه اراده شته؟ وئیل ئے چه .Not at all، دا خبرے دی جناب سپیکر اوکه چرته په هغه ټائم کښې هغه مائیک کهلاؤ وی نو دا به انشاء اللّٰه تعالیٰ ریکارډ شوے وی۔ دلته بیا هغه ورځے د دے سوال کولو نه پس د دے بحث ضرورت ولے راغے؟ د دے بحث ضرورت په دے بُنیاد باندے راغے چه کله دا سوال هغه بله ورځ دلته کښې راغے د دے سوال خپل یو جز دے په آخرنئ دغه کښې چه "حکومت کون کونسے ڈویژن اور اضلاع کو ختم کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؛ دا" ج "جز دے جناب سپیکر۔ د دے په جواب کښې دا راغی۔ یہ معاملہ فی الحال صوبائی حکومت کی قائم کردہ کمیٹی کے زیر غور ہے۔ یعنی جناب سپیکر سوال دا دے چه آیا د بعضے ډویژنونو نه یا د اضلاع د ختمولو څه تجویز زیر غور دے ؟ جواب دا دے ستاسو په وساطت سره د محترمے بی بی په خدمت کښې دا عرض دے چه د هغے جواب دا دے چه دا معامله فی الحال د صوبائی‌حکومت د قائم کرده کمیټئ زیر غور ده۔په دغه ورځ باندے د دے کمیټئ چئیرمین د دے په جواب کښې پخپل Explanatory note کښې جناب سپیکر دا جواب دے " کسی ضلع کو ختم کرنے کی تجویز زیر غور نہیں۔ فرید طوفان چه خمونږآنریبل منسټر دے د دے ایوان د هغه دا جواب دے جناب سپیکر چه زیرغور ده، د هغے زیر غور چه کمیټی ده د هغے چئیرمین جناب فرید طوفان صاحب دے او هغه آن دی فلور آف دی هاؤس دا جواب ورکوی چه " کسی ضلع کوختم کرنے کی تجویز زیر غور نہیں۔ او بیا دلته پخپله دا بیان او دا Statement دلته Inter contradictory دے مسټرسپیکر ! اضلاع سے متعلق

کمیٹی کی رپورٹ کے بعدحتمی فیصلہ کیا جائے گا۔ اوس زہ پوھہ نہ شومہ چہ دا ورشو دا شین شو او دا ښنگہ شو؟ کسی ضلع کوختم کرنے کی تجویز زیر غور نہیں ہے۔ جناب منسټر صاحب نوم دے ۔ اضلاع سےمتعلق کمیٹی کی رپورٹ کے بعدحتمی فیصلہ کیا جائے گا۔ دا څہ شول زہ پرے نہ پوھیږم تاسو پرے کہ پوھیږئی خو ما بہ پوھہ کړئ ځکہ چہ دا وخت ډیرکم دے۔ ماضی کے فیصلے سےصوبے کی معیشت پر منفی اثرات مرتب ہوئے ہیں۔ ضلع ختم کرنے کے فیصلے کو قبول نہیں کریں گے۔ نجم الدین خان۔ او بیا ورپسے روستو چہ هغه ګډ بدقسمتئ نہ چہ څہ دا راغلہ هغہ خبرہ او څہ صورتحال راغے۔ جناب سپیکر! اوس دا صورتحال دے، هلتہ اوس داسے صورتحال جوړشوے دے زہ ډیر پہ عاجزئ سرہ ستاسو پہ خدمت کښې او ستاسو پہ وساطت سرہ د حکومت پہ نوټس کښې دا خبرہ راوستل غواړمہ، انتظامیہ پکښې هلتہ کښې یوبلہ لوبہ شروع کړے دہ، پہ ځائے د دے چہ هغہ ټول ممبران د بالائی ضلع او د زیرین ضلع ټول ممبران کینوئی او انتظامیہ دا تکلیف اوکړی چہ د هغوی تجاویز واخلی۔ د برہ ضلع ډیر د خلقو دا ډیمانډ دے چہ مونږہ، چہ تاسو ضلع جوړہ کړے دہ او ختمہ کړے مو نہ دہ نو مونږ تہ هغہ ټول افسران راکړئ چہ کوم ضلعے لہ پکاردی۔ چہ زہ پہ دے یوہ ضلع باندے بحث کوم نو جناب سپیکر! دغہ شانتہ صورتحال بہ د ټولو ضلعو وی خو زہ پہ دے یوہ ځکہ کوم چہ دا څما مخے تہ دہ۔ پہ دے زہ بہتر مثال ورکولے شم۔ستاسو د پوهه کولو د پارہ او د معزز اراکین صوبائی اسمبلئ د پوهه کولو د پارہ، هلتہ کښې هغوی دا ډیمانډ کوی چہ مونږ لہ افسران راکړئ، څمونږہ افسران پکار دی نو دوی هلتہ کښې چہ ضلعے د پارہ کوم پوسټونہ دوی Create کړے دی، کوم Sanction کړے دی پہ هغے

باندے د افسرانو د ورکولو په خائے باندے د لاندے ضلع نه خلق منتقل کوی پاس ضلع ته۔ خما سره دلته په لاندے ضلع کښې د ټريژرى بينچز دوه ممبران دى۔ جناب بهادرخان ماما او جناب خمونږ هاشم خان لاله چه کوم د اوچ سره تعلق لرى۔ هغه هلته کښې ځانله زيات په ښاڅک صورتحال کښې دى ماته خو Personally دا پرابلم دے چه هيډکوارټر دسټرکټ تيمرګره، د دسټرکټ دير هيډکوارټر چه کوم دےنو هغه تميرګره ده۔ خما په حلقه کښې ده خوخما نه زياته ګوته دوى ته ځکه سنديږى چه دوى ته هغه خپل خلق دا وائى چه تاسو د ټريژرى بينچز سره تعلق لرئ۔ تاسو نه ځنګه د لاندے نه دفترے پاس ځى۔ خمونږه دا درخواست دے جناب سپيکر چه خمونږ د هغے ضلع ټول سياسى قوتونه د هغے علاقے په دے باندے متفق دى، مونږ دا درخواست کوؤ چه بالائى ضلع دير له د دَ ضلعے په بنياد او پيمانه باندے خپل حيثيت ورکړى او دا حکومت دِ نن د دے Discussion په سلسله کښې واضح او دو ټوک خبره اوکړى، دا نه چه زير غور نہيں ہے اور زير غور ہے۔ په دے خو زه کم ازکم نه پوهيږم او چه زه پرے نه پوهيږم نو دير کسان پرے نور هم نه پوهيږى۔ هلته جناب سپيکر زه به دا اووايم ايډمنسټريشن د برے ضلعے او د لرے ضلعے په مينځ کښې د خلقو د جهګړولو يو صورتحال جوړ کړے دے او برناحقه يو صورتحال د لسو اتو مياشتو نه جوړ دے او واضحه خبره ده په واضح بنيادونو سره وئيلے کيدل پکار دى او چه اووئيلے شى نو په هغے باندے عمل درآمد کول پکار دى۔ خما دا درخواست دے چه برے ضلع چه کومه ده او کوم حقيقت دے او کوم

ضرورت دے د هغے دِ دوی باضابطه او واضح اعلان اوکړی۔ هغے له دِ د هغے دStrength او د Sanction په بنیاد باندے خپل پوستونه ورکړی او که څه مالی مجبوری وی نو هغوی ته دِ اووائی، هغوی دِ کینوی۔ هغوی ته دِ اووائی چه تر څه وخته پورے تاسو صبر اوکړئ، د جون پورےاوکړئ۔ کال اوکړئ، دوه کاله اوکړئ، درےکاله اوکړئ، هغه به د هغے د پاره صبر اوکړی خوکم ازکم ایس پی او ډی سیٔ هغے ضلعے له ضروری دے څکه چه بغیر د ډی سی د تعیناتیٔ نه، خما خو دا خیال وو چه نن کله دا بحث کیږی نو جناب فرید طوفان صاحب به نن پاسی او نن به واضح دا اووائی چه ما دا ونیلے وو چه ډیرزربه زه ډی سی ورکومه او نن به دِ ډی سی هلته کښ د پوستنګ اعلان اوکړی۔ کم ازکم په دے باندے به99% لکه څنګه چه دوی د هیلتھ په ډیپارټمنټ کښ د ډاکټرز کمیونټی کښ د مسائلو د حل دعوی کوی99% د هغے خلقو مسئله به په دے حل شی چه دوی ورله نن ډی سی ورکړی۔ لهذا خما دا درخواست دے چه دا تضاد بیانی د ختمه شی۔ صورتحال دِ واضح شی، د برے ضلعے متعلق دِ واضح فیصله اوشی۔ د هغے سره اوس واړهٔ شامله شوے ده، د هغے د آبادیٔ او د رقبے دِ خیال او ساتلے شی۔ هغے له دِ خپلے دفترے ورکړے شی او د لاندے ضلعے نه دے برے ضلعے ته جناب سپیکر دفتر نه منتقل کیږی۔ د برے ضلعےاو د لرے ضلعے په مینځ کښ دِ عوام پخپل مینځ کښ د جنګولو چه کوم د نوکرشاهیٔ یو دغه ده چه په هغے باندے شائد چه څمونږ د وزراء په نوټس کښ نه وی۔ څمونږ د ممبرانو په نوټس کښ نه وی چه د هغے نه هغوی فائده اخلی۔ د دے صورتحال نه دِ عوام بچ کړے شی او قوم اوملک ته دِ ښیګړه ورکړے شی۔ ډیره مهربانی مسټرسپیکر۔

جناب نجم الدین ۔ سر اجازت دے سر۔

جناب سپیکر: بالکل۔

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! زه ډیر زیات مشکور یمه او دا یوه داسے مسئله ده چه خمونږه د دیر بالا د ضلعے خلقو د مرګ او د ژوند سوال دے جی۔ سر په دے کښی بذات خود زه د شپږو، اووه میاشتونه زه په هرفورم باندے هر ایم پی اے ته او هر منسټر ته، چیف منسټر ته، سر تاسو ته، په هر یو کس پسے په انفرادی طور تلے یم او دا ورته ما درخواست کړے دے جی چه کم ازکم خمونږدا ضلع دیر بالا چه کومه ده دا په میرټ باندے برابر ده۔ د دے قوم دا یوه ډیره دیرینه مطالبه ده او خما تاسو ته دا سوال دے چه په دے کښی تاسو خما سره امداد اوکړئ او دے حکومت ته اووایئ چه کم ازکم هلته د دے ضلعے د ختمولو احکامات که فرض کړه کوی نو چه دا نه کوی او هلته دِ د ډپټی کمشنرتعیناتی اوکړی۔ سر زه تاسو ته د دے د میرټ په لحاظ سره، خما د ضلع مسئله ده، زه صرف د ا دوه درے ټکی وایم چه ما له به لږټائم زیات راکوئی۔ د هغے ضلعے حالات داسے جوړ دی جی، پخوا هم هلته یوه جهګړه شوے وه جی او هغه صرف په دے باندے شوے وه چه هغه قوم 15% Royalty وه نو هغوی وے چه مونږ له 20%Royalty راکړئی او په 1976 کښی په هغے کښی فوج استعمال شواو په هغے کښی جهازونه استعمال شو او بیا د هغه وخت حکمرانانو په هغے وخت باندے د20% په ځائے باندے هغوی ته Royalty 60% ورکړه او ورسره ئے د پاټا ریګولیشن متعلق احکامات هم جاری کړل سر۔ زه دا وایم سرچه هلته نن سبا دا پوزیشن بدل دے او هلته د اسلحے انبارونه جوړ دی او قوم دا فیصله کړے ده جی، دلته اخبارووالا هم

گواه دی او ایم پی ایز صاحبان ټول دغه دی که د دغه خلقو نه دا ضلع ختم شوه، نن ایډمنسټریشن داسے حالات هلته جوړ کړی دی چه صاحبه هلته به قتل عام جوړ شی او قوم به تباه وبرباد شی۔ د هغے په سلسله کښ زه تاسوته عرض کوم جی۔ زه په میرټ باندے خبره کوم او زه د چا نه څه غواړم نه۔ نن زه بیا د دے خبرے سوال کوم جی، بهانی تاسولږ غلی شئی دا خبره ډیره اهم ده او ټول به مے ملګرتیا هم کوئی او ما ټولوته ونیلی دی اودرخواست مے کړے دے۔

<u>انجنئیر ګیان</u>: پوائنټ آف آرډرجی۔ زه جی درخواست کوم، بیګاه نجم الدین خان راغلے وو اوما له ئے دهمکی هم راکړے ده جی او خما په مرئ ئےهم زورکړے دے( قهقهے ) اوماته ئے ونیلی دی چه که خما حمایت دِ اونه کړونوزه به د مړکړم(قهقهے) او اوس دے دا هم وائی چه هلته ډیره خطره ده او اسلحه هم خلقو راغستے ده نوزه خوجی Minority والا یم او ډیرکمزورے یم۔ نوزه ویریږم جی او زه به منسټرصاحب ته دا درخواست اوکړم چه دے‌دا خبره واوری او دا کارد اوکړی، ماته خطره ده جی ---

( قهقهے )

<u>جناب نجم الدین</u> بس سر دغه حال دے جی په چا پسے جرګه بو ځنی جی۔

<u>ملک جهانزیب خان</u>: پوائنټ آف آرډرجی۔ په دے سلسله کښ جی زه لږ دا عرض کومه۔

<u>جناب سپیکر</u>: نا No point of order دا Discussion ټول به کوی۔

<u>جناب نجم الدین</u>، اودریږه چه خما تقریرختم شی نو ته بیا خبرے اوکړه کنه، دا خو Discussion دے او د ټولو د پاره دے جی۔ سر خما عرض دا دے چه منسټر صاحب ---- (قطع کلامی)

جناب عبد السبحان خان: پوائنټ آف اړډرسر! دا نجم الدین خان چه Request کوی نو په هغے باندے هم سړے Pressurise کوی نو لږ Polite ، لږ په خندا سره، لږ په مسکا سره او په پیار و محبت سره۔

جناب نجم الدین: سر خما عرض دا دے چه د1977 نه تر اوسه پورے دولس ضلعے جوړے شوے دی۔

جناب احمدحسن خان : جناب سپیکر! د ګیان صاحب د دے خبرے وضاحت پکار دے۔ (قہقہے)

جناب بشیر احمد بلور ( وزیرآبپاشی و آبنوشی)، د اسمبلئی په فلور باندے هغه اووے چه ده ماته دهمکی راکړے ده۔

جناب محمد اورنگزیب خان: د دے شے ګواهی خو زه هم کوم جی۔

جناب نجم الدین: سر دا خبره په او، هاں کښې ورے کیږی زه عرض کوم چه دا کسان دِ بټول غلی شی۔ سوال کوم دا جولئی تاسو ته نیسم، خدائے ته اوګورئ-----( قہقہے )----- خما نن ډیره اهم مسئله ده جی او خما د مرګ اود ژوند سوال دے، قسم په خدائے دا زه تاسو ته سوال کوم، دا تاسوته عرض کوم چه زه بیګاه درغلے یم او یو کس ته مے دا درخواست کړے دے خو د دے د پاره مے کړے دے چه صاحب زه هم هلته مرم او خما قوم هم مری۔ نو ولے تاسو شر جوړوئ۔

جناب محمد اورنگزیب خان، دا جی د نجم الدین خان حمایت ځکه کوؤ چه حاجی منصف خان دِ خدائے پاک اوبخی یو خو رانه لاړو چه اوس رانه دے لاړ شی۔

جناب نجم الدین، بس ټھیک ده خو دغه مو نمبر دے د خیره سره ګورے، زه

عرض دا کوم جی چه د رقبے په لحاظ سره چه وارنی سب ډویژن د یو نوے نوټیفیکیشن مطابق جی، د پرون راسے زه دا چغے وهم چه دا آبادی اورقبه ټهیک کړئ، په هغے کښ د رقبے په لحاظ سره په ټولو ضلعو کښ، ددولسو ضلعونه، 4500 مربع کلومیټر رقبه ده جی۔ ستاسو په نوټس کښ نے راولم جی۔ دا په ټولو ضلعو کښ د رقبے په لحاظ باندے د دولسو نه غټه ده جی۔ د آبادئی په لحاظ باندے جی د دے 362563 آبادی ده جی۔ دا آبادی د هنګو، شانګلے، بټګرام، لکی مروت، بونیر اوکرک نه زیاته ده جی۔

جناب سپیکر: د کرک نه هم زیاته ده۔

جناب نجم الدین: آفسر د کرک نه هم زیاته ده (قہقہے) نو آته ضلعے چه دوی خما نه مخکښ ختم کړی نو نهم نمبر خما راځی جی لیکن دوی خمونږ نه ډپټی کمشنر راغوښتلے دے۔ زه عرض کوم او تاسو ته مے دا درخواست دے چه کم از کم په دے سلسله کښ جی مونږ د چیف منسټرصاحب سره ملاؤ شوی یو، هغه مونږ ته دا تسلی راکړے ده چه زه به کمیټئی ته دا درخواست کوم چه ستاسو په حق کښ فیصله اوکړی او زه به ستاسو نمائنده یم جی۔ فرید طوفان صاحب دیر ته راغلے دے او ټول قوم د هغه استقبال کړے دے او په زرګونو خلق ده ته راوتلے دے او ده په هغه سټیج باندے دا اعلان کړے دے چه حکومت هغه ضلعے نه ختموی کومے چه جوړے شوی دی او نه نورے نوے ضلعے جوړوؤ۔

جناب عبدالسبحان خان: هغه تاسو ته چه پکښ شوکاز نوټس ملاؤشوےوو۔

جناب نجم الدین: او جی، هغه دے۔ خبره واوره جی چه په هغے باندے هغه قوم د هغه په خُله باندے اعتبار کړے دے او یوه نیمه میاشت هلته هړتالونه وو

او د هغه په دے وعده باندے چه مونږ ضلعے نه ختموؤ، د دے وعدے په وجه باندے تراوسه پورے هغوی هیڅ څه داسے قسم حرکت نه دے کړے. بیا وزیراعلی صاحب جی په هغے خمونږ سره وعدے کړی دی. خما درخواست دا دے چه د شپږو میاشتو نه مونږ ته یو ذهنی ټارچر ملاویږی او یو ذهنی پریشانی مونږ ته ملاؤ ده جی. ټول قوم خلق غوک د گولډن جوبلی تقریبات مناوئ جی، غوک په بیس تاریخ باندے، ما نن بی بی ته درخواست کړے دے چه بی بی ته به بیس تاریخ د پختونخواه جشن مناوئ، مونږ له ډپټی کمشنر راکړه چه مونږه هم هلته په بیس تاریخ باندے د ډپټی کمشنر جشن مناؤکړو جی------(تالیاں)------مونږ دا درخواست کوؤ جی چه مونږ دِ نور په ذهنی پریشانئ کښ نه اچوی او دا مے سوال دے دے ټولے اسمبلئ ته ده او زه دا خبره کوم چه دا ټول خما سره په دے کښ متفق دی. متفق یئ تاسو کنه، تاسو؟

آوازیں: او جی.

جناب نجم الدین: گورئ جی دا قرارداد هم پاس کړئ چه دا ټوله اسمبلی خما په دے خبره متفق ده چه ضلع دِ هم نه ختمیږی او ډپټی کمنشنر دِ هم ورکړی. صحیح شوه جی. بینچونه اوډزونی --- (تالیاں)

جناب همایون سیف اللہ خان: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: دا ملک جهانزیب خان مخکښ پاڅیدلے وو.

ملک جهانزیب خان: شکریه جناب سپیکرصاحب! چونکه دا بحث خمونږه د ډیر نه شروع دے نو په دے کښ زه حصه اغستل ضروری گنړم په دے وجه باندے زه اودریدم.

جناب سپیکر. دا په دے سوال نمبر 57 باندے بحث دے، Question No. 57 د بحث د پاره Admit شوے دے۔ دے ته به خان Limit کوئ جی۔

ملک جهانزیب خان: خما دا خبره د ضلعے د ډی سی او د ضلع د دفترو متعلق ده جی او خما د هغے ضلع سره تعلق دے۔ په تیر شوے حکومت کښې چه کله د دغے ضلعے نوټیفیکیشن شوے وو نو په هغه وخت کښې خما حلقه PF 77 قوم پائنده خیل، سلطان خیل په دغه بره ضلع کښې شامل نه وو۔ ستاسو په نوټس کښې سر زه دا خبره ضروری راوستل گنړم۔ نو بیا په 2/9/97 باندے یو نوټیفیکیشن اوشو چه خما حلقه PF 77 سلطان خیل، پائنده خیل د لاندے ضلعے نه کټ شواو د برے ضلعے سره خما حلقه شامله شوه۔ جناب په دے وخت کښې د ضلع دیر آبادی چه کومه ده نو دا ډُکنا شوه جی۔ د ضلع دیر بالا آبادئ زیاته شوه۔ د دے نه علاوه زه ستاسو په نوټس کښې دا خبره راوستل غوارم چه ضلع دیر کله یوه ضلع وه نو په دے کښې دیرش د ډسټرکټ کونسل حلقے وے اوس برابر پنځلس د ډسټرکټ کونسل حلقے بره لاړے او پنځلس د ډسټرکټ کونسل حلقے په لاندے ضلع کښې راغلے نو د آبادئ په نسبت باندے څمونږه ضلع چه کومه وه نوهغه نیمه شوه او برابر شوه۔ په دے سلسله کښې زه دا عرض کومه چه د آبادئ نسبت اوس هم د بره ضلع آبادی ډیره زیاته شوه۔ څنګه چه نجم الدین خان وضاحت اوکړو چه د نورو ټولو ضلعو نه د ضلع دیر بالا آبادی د دے موجوده نوټیفیکیشن په وجه باندے ډیره زیاته شوے ده جی۔ خما قوم او خما علاقه هم دا Demand کوی او دا د هغوی خواهش دے او دا د هغوی تمنا ده چه مونږ ته دِ اوس د نورو دفترونو سره سره ډپټی کمشنرخوامخواه راکړی۔ خما قوم هم د دے ضلعے په حق کښې

دے او اوس مونږ د دے ضلعے مطالبه کوؤ چه دا ضلع دِ بالکل بحال اوساتلے شی اومونږ ته دِ ډپټی کمشنر راکړے شی۔ شکریه۔

<u>جناب سپیکر</u>: جناب غنی الرحمان خان۔

<u>جناب غنی الرحمان خان</u>: جناب سپیکر شکریه۔ جناب سپیکراحمد حسن خان او نجم الدین خان د خورږ اوتفصیلی تقریرونو نه بعد خو ما تقریر کول نه غوښتل خو دوی چونکه صرف دیر ضلع یاده کړه، ضلعے ئے یادے نه کړے ولے چه د حکومت چه کوم پروګرام دے د څلورو، پنځو ضلعو د ختمولو نو په هغے کښې هنګو هم سرفهرست دے او دیربالا، ټانک او شانګله ده۔ د دے حکومت دا پروګرام دے چه دا ټولے ختمے شی۔ د دے باوجود چه فرید طوفان د کمیټئی چیئرمین دے هغه بار بار په دے هاؤس کښې د دے خبرے اعلان کړے دے چه مونږ ضلعے نه ختموؤ۔ نو خما خیال دا دے چه چیئرمین دلته یو قسمه فیصله اوکړله چه په فلور باندے هغه دا اعلان اوکړو خو آیا دا د حیرانګتی‌خبره ده چه کله هم انتظامی سټاف زیاتیږی یا په انتظامیه کښې څه زیات والے راځی نو هغه د آبادئ او د هغے علاقے د ضروریاتو په بنیاد باندے په انتظامیه کښې اضافه کیږی۔ دا ضلعے په مختلف ټائمونو باندے جوړے شوے دی، څه په 1990 کښې جوړے شوی دی بلکه د 1996 پورے جوړے شوے دی او په میرټ جوړے دی۔ زه به د هنګو خبره اوکړم چه د هنګو د خلقو دا ډیره دیرینه مطالبه وه او دا ئے Demand وو چه هنګو ته دِ د ضلعے درجه ورکړلے شی۔ په دے سلسله کښې ما مخکښې په بجټ تقریر کښې هم دا خبره کړے وه چه آفتاب خان جلسه اوکړه او هغه اصولی طورسره Agree شو چه زه تاسو ته دا ضلع درکوم۔ د هغے د پاسه فریدطوفان جلسه اوکړه چه دا ضلع

ستاسو حق دے او تاسو له دا پکارده چه دا ضلع جوړه شی۔ صابر شاه راغلو هلته ئے دا اعلان اوکړو چه دا ضلع ستاسو حق دے او دا پکار ده چه تاسو ته جوړه شی۔ د دے مطلب دا شو چه د ټولو پارټیانو په دے باندے اتفاق اوشه نو چه اتفاق اوشه نو بیا د هغے نه بعد آفتاب خان د دے نوټیفیکیشن اوکړو او هنګو ته ئے د ضلعے درجه ورکړه ۔ هلته ایس پی او ډی سی لاړل، خو کله چه موجوده حکومت په وجود کښ راغلو نو د هغے ورځے نه ئے ډی سی او ایس پی Close کړو۔ زه حیران په دے یم چه هلته ضلع ټیکس شته او کوهاټ or D.C Hangu دستخط کوی، نو پکارخو دا ده چه ډی سی او ایس پی دوی اوس اولګوی۔ مونږ د بی بی نه هم دا توقع لرو او د موجوده حکومت نه دا توقع لرو چه دوی دِ نن په هغه ټول اضلاع کښ ډی سی اولګوی او دا ټولے ضلعے په میرټ جوړے دی۔ مونږ به پکښ دا اووایو چه ترڅو پورے دا DCs نه وی نو دا به د دوی په بدنیتے باندے مبنی وی نو مونږ وایو چه دا بدنیتی دے ختمه کړی او مونږ ته دے DCsand SPs او ورسره نور کوم ضروریات چه دی هغه اولیګی۔

<u>جناب عبدالسبحان خان</u>: سر ! د غنی الرحمان خان نه په Support کښ یو کار پاتے شوے دے۔ پکار دا وو چه ده هم ګیان سنګھ له په مرئی زورکړے وے۔

<u>جناب غنی الرحمان خان</u> : سبحان خان! دا هم ښه خبره اوکړه شاید خما خیال دا دے چه صابرشاه سره دوی هم راغلے وو ولے چه سرانجام خان ورسره وو نو دے به هم ضرور وو۔ خما خپل خیال دا دے چه هغه په هنګو کښ دا اقرار کولو چه دا ضلع به خوامخواه جوړوو۔ نو جناب سپیکر ستا سو په وساطت سره خمونږ حکومت ته دا خواست دے چه دا DCs and SPs او

نو رضروریات چه کوم د ضلعے دی هغه دِ فورآ نن یا سبا کښې اعلان اوکړی۔

جناب سپیکر: جناب ظاهرشاه خان۔

جناب محمد ظاہرشاہ: جناب سپیکرصاحب! ستاسو ډیره مهربانی۔ نن د دے اضلاع په باره کښې چه کوم بحث روان دے نو په دے متاثرینو کښې مونږ شانګلے والا هم شامل یو جی۔ د بدقسمتئ نه چه کله دا الیکشن اوشو او خمونږ چیف منسټر صاحب چه کله خپل پالیسی بیان ورکولو نو په هغےکښې هغوی دا ذکر اوکړو چه زه به دا اخراجات کمه ووم۔ په هغه وخت کښې ما هغوی ته دا دغه اوکړه چه مهربانی به اوکړے او خمونږدا ضلعے مه ختموه ځکه چه دا تهیک ده چه دا د پیپلزپارټئ په دورکښې جوړے شوے دیخو دا د قوم په Demand جوړے شوے دی، دا دقوم په کوششونوجوړے شوے دی۔ خمونږ دا شانګله ضلع چه ده دا خو څه اوسنئ خبره نه ده جی، دا خو خمونږډیر زورDemand وو۔ خمونږ دے اسمبلئ خما قرارداد په مارچ 1988 کښې Unanimous pass کړے دے چه شانګلے له د دَ ضلعے درجه ورکړے شی خو د هغے نه پس هغه اسمبلئ ماتے شوے ځکه په هغے باندے عمل درآمد اونه شو حالانکه په هغه وخت کښې Feasibility جوړه شوے وه او په هغے باندے حکومت په هغه وخت کښې کارکولو۔ بیا د هغے نه پس خمونږ قوم وقتاً فوقتاً د هغے د پاره راوتلے دے او Agitations ئے کړی دی۔ مونږه د میر افضل خان صاحب مرحوم سره هم په دے خبره باندے رابطے کړے وے او هغوی په دے خبره باندے مونږه قائل کړی وو چه خمونږه دا ضلع جوړه کړی خو په آخری وخت د نوازشریف او د غلام اسحاق خان هغهTussle جوړشو۔ زه په پله چونکه د نوازشریف ملګرے وومه، او نوازشریف سره ----

**وزیر بلدیات:** سر دوی ته هدایت اوکړئ چه نوازشریف صاحب د مسلم لیگ صدر دے او د پاکستان پرائم منسټر دے نوازشریف صاحب دِ وائی کنه، نواز شریف خو، او دے خو د هغوی نه ډیر کشر دے--- (شور)

**جناب سپیکر:** ختنی جی خبره کوئ۔

**جناب محمد ظاہر شاہ** ، زه د طوفان صاحب ډیر زیات مشکور یمه چه کله نا کله ډی ډیره د کار خبره کوی (قہقہے) خونړ دغه دے، دا میاں صاحب، زه هغه سره په ملګرتیا کښې وومه نو په هغه وخت کښې میرافضل خان صاحب ما پسے سړی را اولیږل، یو پکښې یوسف ترند هم وو اوس دے وخت کښې په هاؤس کښې موجود نه دے او پکښې غالباً دا باچه لالا وو، ما نه اوس هیر دی جی۔ چه زه درله شانګله ضلع جوړووومه خو ته خونړملګرتیا له راشه۔ نو په هغه وخت سره جی ما دا دغه اوکړه، په ما باندے د قوم د طرف نه هم پریشروو جی، د دوست محمد خان په مشرئ کښې خونړ ډیلیګیشن هم د میرافضل خان صاحب سره ملاؤ شوے وو او دا ټوله جرګه ما پسے راغله چه ته دا میاں صاحب پریږده او دے دغه ته راشه چه دا ضلع درله جوړه کړو۔خو ما دا مناسب اونه ګنړله ځکه چه دا د اصولو جنګ وو او د اصولو په دے جنګ کښې ما د خپل قائد ملګرتیا اوکړله نو خونړ ضلع په هغه وخت کښې دغسے پاتے شوله او جوړه نه شوله جی۔ د هغے نه پس بیا د پیپلزپارټئ په دور کښې خونړ ضمنی الیکشن کیدو جی، نو دغه اوونیل جی چه محترمه بے نظیر صاحبے په ضلعو باندے Ban لګولے دے جی۔ نو په 30مارچ باندے خونړ ضمنی الیکشن وو جی او میاں صاحب او ولی خان دواړه، خدائےپاک دِ دواړه

ژوندی ساتی په ضمنی الیکشن کښې خما Campaign له لاړل او په هغے کښې ولی‌خان هم تقریر اوکړو او میاں صاحب هم تقریر اوکړو او د خلقو دا ډیمانډ وو چه خمونږ ضلع، نو هغوی اووئیل که د پیپلز پارټئی حکومت دا ضلع جوړه نه کړه او کله زه برسراقتدار راغلم نو دا ضلع به انشاء الله زه جوړوم- او دا سبحان خان او خما په خیال ډیر دا خمونږ ملگری دلته دی چه د هغے خبرے گواهان دی جی، او چه کله دغه خمونږ د دے خلقو جوش او خروش او دا دغه اولیدو چه دا سیټ زه گټمه نو دلته کښې آفتاب خان د دے ځائے نه په هیلی کاپټر کښې روان شو، یوه ورخ مخکښې، د الیکشن نه یوه ورخ مخکښې، چونکه باران وو نو بیا واپس راغے او د دے ځائے نه نے اعلان اوکړو چه ما د شانګلے ضلع جوړه کړله- خیر هغه الیکشن خو که ما بائیللے وو خو هغه یو پکښې ډیر عوامل د ده وو، احمد حسن خان دی پکښې ډیر لوئے دغه، دوی پکښې هم انچارج وو د دے ستنو که د ټیلفونونو پته نشته دے د ده سره هم پکښې لوئے دغه وو جی (تالیاں) خو بحرحال هغه ضلع خمونږ جوړه شوله جی- اوس خمونږ حکومت، خمونږ خپل حکومت دے جی او خمونږ په دور کښې دا ضلع ختم کیږی نو دا به خمونږ سره ډیر زیاتے وی جی- خمونږ چه هلته کومه آبادی ده هغه ډیره پریشانه ده- په دے دغه کښې نے چه کومه آبادی ورکړے ده، زه تاسو ته د یوے‌خبرے وضاحت کومه‌چه‌خمونږ په روپئ کښې یعنی تقریباً---- (قطع کلامی)

جناب سپیکر: وخت ته هم گورئ وخت به نورو ممبرانو صاحبا نو له، دوه درے کسان نور هم دی-

جناب محمد ظاہر شاہ ، ټهیک شوه جی خو مونږ Affectees یو جی، هغه

متاثرین یو جی- نو خما په دے کښې دا درخواست دے چه دا ډی سی یعنی مطلب دا دے، پرون خما په بشام کښې کُهلی کچهری وه- خمونږ ډی سی صاحب د سوات نه روان شی او ورپسے شپږ، اووه جیپان وو او مخکښې هغه وی او ورپسے لس دولس گاډی وی، وائی چه زه کهلی کچهری له خمه- هلته چه راشی نو خلق ترینه مطالبے اوکړی چه ته مونږ له دا اوکړه، مونږ له بجلی راوله، خمونږ سړک خراب دے، مونږه ته اوبه نشته- دا کُهلی کچهری صرف د دے د پاره کوی چه د خلقو خُله بند کړی جی- نو زه تاسو ته دا ریکوسټ کومه چه دے وخت کښې به حکومت ته د پیسو پرابلم وی، داول نه خو خمونږ جغرافیائی طور باندے شانگله یو اٹک تهلک علاقه ده او بنکته تر تربیله ډیم پورے رسیدلے ده، کوهستان سره خمونږ حدونه لگیدلے دی- آلائی سره لگیدلے دی- دلته کښې دغه سره لگیدلےدی جی نو خمونږ خو ددے ضلعے حق جوړیږی، یو جواز جوړیږی چه خمونږ دا ضلع په دغه وجه باندے پاتے شی- او د دے نه علاوه جی زه خو د چا غیبت نه کوم او چا ته په غلط نظر نه گورم، خو د دے نورو ضلعو مطابق جی، دا وړے وړے ضلعے چه دی، دا نورے ضلعے چه دی لکه نوښار شو، چارسده شوه، کرک شو، صوابئ شوه، هری پور شو، بټگرام شو، کوهستان شو د دوی په نسبت خمونږ حق ډیر زیات مضبوط دے، خمونږ دا کیس ډیر مضبوط دے اوکه چرے حکومت سره پیسے نه وی نو مونږ ترینه نور فی الحال هیڅ نه غواړو جی- صرف ډی سی، تنخواه خو د دلته نه هغه هسے هم اخلی نو دا ډی سی دِ د دے خانے نه بوخی او هلته کښې د نے کینوی - هیڅ دغه ورله مه دغه کوئ جی تر څو پورے چه د دے صوبے مالی حیثیت Establish شوے نه وی

جی۔ صرف یو ډی سی هلته اولیږئ، ایس پی هلته کښې شته دے جی۔ نو زه تاسو ته صرف دا درخواست کوم چه خمونږ دا -----(قطع کلامی)

جناب سپیکر: جی باچه صاحب۔

سید منظور حسین باچه: ډیره شکریه جناب سپیکر صاحب۔ محترم سپیکر صاحب! د نجم الدین خان په سوال نمبر 57 باندے چه کوم بحث روان دے نو زه په دے باندے مختصر خبره کول غوارم۔ چه کوم صورتحال د موجوده حکومت د جوړیدو په وخت کښې دے صوبے ته مخامخ وو، نو انتهائی نیک نیتی باندے هغوی دا کوشش کوؤ چه په دغے صورتحال باندے قابو بیا مومی او د هغے د پاره بعضے اقدامات د هغوی په ذهن کښې راغلل او په هغے باندے ئے سوچ اوکړو چه یره که مونږ په دے باندے عمل درآمد اوکړو نو شاید چه د دے صوبے آمدن زیات شی او اخراجات کم شی۔ ځکه چه تیر شوی حکومتونو کوم صورتحال ته دا ملک مخامخ کړے وو نو د هغے بیا هم علاج به وو نو هم د دغے قوم نه به زور اووتلو، او د خپلو کوشش لکه دغه شان لګیا دے کیږی۔ خو زه د خپل سوچ مطابق په دے نتیجه باندے اورسیدم چه غالباً خرابے دومره زیات دے، تیر شوے حکومتونو دومره تباهی کړے ده چه په دے پوټے پوټے اقداماتو باندے شاید چه هغه تباهی مونږ راو نه ګرځو۔ ځما خو دا خیال جناب سپیکر صاحب، د خپل دے صوبائی حکومت نه، چه "سل په لالی پورے دا یو پړے د بنګړو"۔ مه ختموئ بس۔ یو ضلع هم مه ختموئ یو دویژن هم مه ختموئ چه کومه تباهی ده هغه خو هسے هم ده۔ قوم هغے ته مخامخ دے۔ بلکه زه به د خپل طرف نه یو اضافی تجویز دا هم پیش کړم چه مونږه مخکښې په دے پنځو مرلو او په لسو مرلو کورونو باندے دلته د اسمبلئ په

بجٹ کښې ټيکسونه پاس کړے دی، د هغے نه هم جي څه نه جوړيږي- زه خو ټول هاوس ته اپيل کوم چه مشترکه خپل صوبائي حکومت ته اپيل اوکړو چه هغه هم ختم کړي، هغه هم ختم کړي- جوړيږي ترينه هيڅ هم نه او غريب خلق هسے په اورکښې ولاړ دے- ډيره مهرباني ډيره شکريه- (تالیاں)

جناب عبدالسبحان خان: جی پرسنل، (قطع کلامی)

جناب سپیکر: جي عبدالسبحان خان- په پوائنټ آف آرډر باندے نے اوکه په ضلع باندے خبره کوے؟

جناب عبدالسبحان خان: په ضلع باندے کومه جي-

جناب سپیکر: نو بيا دوی درنه مخکښې وو کنه- دوی به مخکښې اوکړي تاسو بيا خبره اوکړے-

جناب افتخار الدین: جناب سپيکر صاحب! چونکه د ضلعو متعلق په دے سوال باندے بحث شروع دے نو لکه چه څه رنګه باچه جي اوونيل چه "سل په لالی پورے يو پړے د بنګړو" نو خما هم داسے يو وړه غونډے قيصه ده- نو دا بنګړو والا دِ مونږ ته راکړي جي- خمونږ تحصيل جوړ شوے دے جي- ولے چه دوی خو ضلعے غواړي خمونږ تحصيل جي جوړ دے خو اوس راسره دا ويره ده چه چيئرمين صاحب رانه هغه تحصيل ورکوي- ولے چه اکثر خمونږ او د دوی جنګ په باونډرئ باندے وي- نو زه چيئرمين صاحب ته دا وايم چه خمونږ تحصيل پکښې ورک نه کړے- او جي يو بنګړے دِ داسے خمونږ پله را اولي-

جناب سپیکر: جي عبدالسبحان خان-

جناب عبدالسبحان خان: ډيره مننه- سپيکر صاحب! چونکه دے سلسله کښې

نجم الدین خان، ظاهرشاه خان او غنی الرحمن خان د لابنگ هم کړے دے ریکویسټ ئے هم کړے دے، دا یو فورم دے چه په دے بانده د عوامو د حقوقو تپوس --- (قطع کلامی)

<u>ایک معزز رکن</u>: لږ اوچت وائیئ جی۔

<u>جناب عبدالسبحان خان</u>: ٹھیک کیږو به جی رو رو به Volume اوچتیګی۔ خو نجم الدین خان پکښ د ګیان خان په مرئ زور هم کړے دے نورو دوو نه دے کړے۔ د دوی نه پکښ دا کمزوری شوے ده، خبره داسے ده جی چه زه یو خبره واضح کومه۔ که ستاسو اجازت وی چه یو واقعه بیان کړمه جی۔ مونږ په جیل کښ وو جی نو د اوبو هغه پمپ اوسوزیدو، هغه موټر، نو په دغے وخت کښ د قادیانی موومنټ څه قیصه وه نو هغوی ئے را دننه کړل۔ زه ئے بریف کومه جی۔ نو ما سپرنټنډنټ او جمعدار سره صلاح اوکړه چه زه په دوی بانده یو دباؤ کوم چه ستاسو پیښور جیل ته چالان دے۔ هغوی ډیر ګهبراؤ شو او هغے قادیانانو ما ته اوونیل چه ته خمونږ د پاره دے سپرنټنډنټ صاحب ته ریکوسټ اوکړه چه پاتے مو کړی۔ ما ورته اوونیل چه ګرانه خو ده خو زه به مو پاتے کړمه، نو زه هسے ډیوډئ ته لاړمه اوچت هو اپس راغلمه نو ما هغوی ته اوونیل چه یره سپرنټنډنټ صاحب خو په یوه خبره Agree کیږی او هغه په دے Agree کیږی که چرے تاسو مونږ ته یو بورکوئ او یو پمپ راته بل لګوئ، یو موټر، هغوی هغے سره Agree شو۔ په کومه ورځ بانده چه هغه مونږ بنیاد کیخودو یا هغه بورنګ کیدو نوخمونږ د جیل یو ملګری پکښ اوونیل چه یره قادیانانو ته پکښ آواز نه کوؤ چه دعا کوؤ۔ ما ورته وئیل چه قادیانانو ته پکښ حاجت نشته۔ دے کښ د هغوی څه کریډټ شته؟ دا

خو هغے مُلیانو ته، چه د دوی خلاف ئے آوازونه پورته کړل او دوی ئے رادننه کړل او دلته ترے مونږ کار واغستو او ماته دعا کوئ۔ زه وایم چه دغه ډسټرکټ چه کوم که په ډیر کښ دے او که هغه هنګو کښ دے، لکه غنی الرحمن رور یا دوی خمونږه، دا دے مسلم لیګ او نیشنل پارټئ ته دعا کوی چه د دوی زور پرے راغے نو هغوی مجبوراً د الیکشن د ګټلو د پاره اعلان اوکړو ---(تالیاں )---خبره داسے ده صاحب چه د ډیر زه مختصر، او نجم الدین خان نن ډیر د وسیع النظرئ نه کار واغستو، د وسیع القلبئ نه چه ده دا خبره ایډمټ کړه۔ زه دا خبره، زه د ډیر خلقو ته چه څومره ټرائبل دی هغوی ته سلام کوم چه د پاکستان په جوړیدو کښ او په جهاد کشمیر کښ د هغوی ډیره لویه برخه ده، خو ده دا هم ایډمټ کړل چه د دوی په خپل حکومت کښ 1976 د پیپلز پارټئ په حکومت کښ چه کومے ګولے په دے غریبانانو باندے واره ولے وے د هغوی چه کوم بچی اوکوروته بلډوز شوے وو، هغه دوی پخپله باندے اوونیل چه په هغه ټائم کښ هغه خلق تر هغے پورے په قلاره نه کیناست چه تر څو پورے ئے خپل حقوق نه وو اغستی۔ ما ته هم جی دا پته ده که چرے د دوی ډسټرکټ بحال نه شی نو Blood shed خطره ده جی۔ او دا یو داسے فورم دے، ډیمانډ چه څومره دی که هغه غنی الرحمن خان وَنیلی دی که هغه ظاهرشاه یا خما رور جهانزیب خان ونیلی دی۔ او دا جی مونږ د مسلم لیګ پارلیمانی پارټی اجلاس کښ ما خپل چیف منسټر صاحب ته د دے خبرے وضاحت کړے وو او هغوی ته مے ریکوسټ کړے وو۔ مونږ هم د دوی سپورټ کوؤ څنګه چه باچه صاحب اوونیل او د دوی د سپورټ سره سره چه چونکه خما ایډجرنمنټ موشن هم د دیر متعلق دے نو که تاسو مهربانی

اوکړئ د Rule 69 لاندے، تاسو بیا مہربانی اوکړئ ------ (قطع کلامی)

جناب سپیکر: اوس خو--- (قطع کلامی)

جناب عبدالسبحان خان: اوس خیر دے جی که نه شی Day after -------

جناب سپیکر: هغه به بیا هلته خبره کوو، اوس دومره مهربانی اوکړئ که د منسټر صاحب نه جواب غواړئ نو نور بس خبره هم دغه ده چه تقریباً د هغوی دغه دی۔ نو د منسټر دے جواب ته غوږ کیږدئ۔

جناب عبدالسبحان خان: ټهیک شوه جی Thank you sir , thank you so much.

جناب سپیکر: او که وخت مو زیات کړو نو هسے نه چه دا هم په خائے پاتے شی۔

**Mr. Speaker** Honourable Minister Please

جناب بشیر احمد خان بلور ( وزیر قانون و پارلیمانی امور)، جناب سپیکر صاحب! خما دے مشرانو ډیرے ښه خبرے اوکړلے او خمونږ د حکومت پالیسی هم دا ده او خمونږ کوشش هم دا دے چه مونږ غیرترقیاتی اخراجات کم کړو۔ تاسو اولیدل چه مخکښنی حکومت په 33 وزیرانو او په 8 مشیرانو باندے حکومت چلولو او موجوده حکومت د غیر ترقیاتی اخراجاتو کمولو باندے خپل کیبینټ هم دومره ورکوټے ساتلے دے، خو د هغے باوجود ولے چه خمونږ دے رونړو کومے خبرے اوکړلے دا ډیرے اهمے خبرے وے او په دے باندے حکومت هم تاسو ته پته ده چه یو کمیټی جوړه ده او خمونږ دے مشرانو ته هم دا پته ده چه کمیټی جوړه ده۔ زه د کمیټئ چیئرمین ته او دے

ممبر صاحب ته فلور آف دی هاؤس دا خواست کوم چه دوی دِ دا خپل رپورټ زر تر زره پیش کړی چه دا فیصله په کیبینټ کښ اوشی او دوی له دا تسلی ورکوم چه انشاء الله حکومت به هغه فیصله کوی چه د دے ایوان او ددے خلقو او د دے عوامو په ښیګړے باندے به وی او انشاء الله دا خبره به داسے نه وی چه دوی ته به څه پرابلم جوړیږی۔ خما انشاء الله یقین دے چه د کمیټئ دا Findings/چه راشی نو حکومت به په هغے باندے داسے فیصله کوی چه د عوامو په ښیګړے باندے به تماميږی۔ زه دے خپلو رونړو ته دا خواست کوم چه At present مونږ سره داسے دغه نشته چه کومه ورځ مونږ ته پوره Detail کښ، چه کیبینټ کمیټئ چه مونږ ته Detail رانه کړینو At present مونږ داسے هیڅ فیصله نه شو کولے چه مونږ به په هغے باندے څه ایکشن اخلو؟ او چه هر کله د دوی Findings راغلل نو انشاء الله فیصله به هم هغه شان کیږی چه څنګه د دوی منشاء ده۔ او خمونږ د حکومت هم دا کوشش دے چه که مونږ چاله څه شے نه شو ورکولے نو خمونږ کوشش به دا وی چه د چا نه څه وانخلو۔ نو خما دا یقین دے انشاء اللهؐ چه کمیټئ به داسے فیصله کوی چه د دوی په حق کښ به وی او چه د دوی فیصله راشی هم په هغے فیصله باندے به حکومت عمل درآمد کوی۔

جناب نجم الدین: پوائنټ آف آرډر۔ سر! خما عرض دا دے چه د کمیټئ چیئرمین صاحب دِ مونږ له لږه تسلی راکړی جی هغه بله ورځ، سر هغه بله ورځ دوی کلئیر کټ دا وئیلی دی چه مونږ ضلعے نه ختموؤ۔ د ډپټی کمشنر خبره ما کړے ده، سینکشن پوسټونه دی جی، ما تاسوله درکړی دی نور ټول سټاف نے مقرر دے او د کمیټئ چیئرمین صاحب دِ خبره اوکړی چیئرمین

صاحب دِ خبره اوکړی سر۔

بیگم نسیم ولی خان: د کمیټۍ ممبر پاسیدو کنه۔

جناب نجم الدین: سر چیئرمین ښه دے جی۔

جناب فتح محمد خان (وزیر جنګلات): سر زه به یو دوه منټه عرض اوکړم جی--

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: دغه مائیک آن کړئ جی۔

وزیر جنګلات: شکریه سپیکر صاحب! خبره خو څنګه چه منظور باچه اوکړه دا خبره هم دغه وه د خرچ اخراجات، هغه په هر ځائے کښې وو جی او خاصکر د دے ډسټرکټ مسئله چه وه دا د کیئر ټیکر په حکومت کښې بیوروکریټسو هغوی ته لیږلے وه چه تاسو ایډمنسټریشن، او هغه هم بهر ملکونه چه کوم پیسے ورکوی، ګرانټ یا مالی امداد ورکوی پاکستان ته د هغوی دا دباؤ وو چه تاسو ټولے پیسے په فضولیاتو کښې خرچ کوئ او د هغے د بجټ نه اندازه معلومه ده چه بجټ کښې څومره، بجټ راځی هغے کښې ترقیاتی کارونو ته هیڅ نه پاتے کیږی خو په تنخواه ګانو کښې په پنشنونو او په دے څیزونو کښې ټول خرچ کیږی جی۔ نو هغوئ اووئیل چه تاسو خرچ کم کړئ۔ نو د هغے خرچ په وجه خو چه کله څمونږ حکومت راغلے وو چیف منسټر سره دا احساس وو چه هغه په هغے باندے عمل درآمد او نه کړو خو هغه یو کمیټی جوړه کړه۔ او هغه کمیټی چه ده هغوی د دے خلقو رونړه دی هغوی څه د بل ځائے نه نه دی راغلی۔ د دوی احساسات ورته هم معلوم دی، د دوی د علاقے مشکلات ورته هم معلوم دی۔ چه دوی ته به د دے نه څومره تکلیف رسی۔ فائده به څومره وی او تکلیف به څومره وی۔ د هغے ټولو نه ښه خبر دی او

حکومت هم د دوی خپل حکومت دے۔ اوس هم دیر بنه اوشو چه دوئ د خپلو خیالاتو اظهار اوکړو او مزید که پکښ مونږ ته څه معلومات نه وو هغه معلومات هم مونږ ته راکړےشو او مونږ به کوشش دا کوو چه د دوی د مرضئ مطابق او د دے هاوس د مرضئ مطابق او د هغے علاقے د خلقو مطابق چه څه ممکن وی هغه طریقه به ورسره مونږه، خمونږ کوشش به دا وی چه هغے طریقه باندے څه حل راوتے کیږی هغه به راوباسو جی۔

**Mr. Speaker:** The sitting is adjourned till day after tomorrow andwe re-assemble at 10.00 A.M, on the 20th of November.

(اسمبلی کا اجلاس جمعرات 20 نومبر 1997ء صبح دس بجے تک کے لئے ملتوی ہوگیا۔)